یعني پدي خبره چي داختلاف اونفاق لري خداي مکړه توره سخته اوزیاته یااوزده نشي خویه هرحال ددي شرایطو سره سم تیره ورځ یعني د۱۳۷۲ کال دحمل دمیاشتي ۲۳ نیټه مي یو جریده چي نوم ئي اسلامي جریده (رسالت) و، اوبیه یي یوه کداره وه اوتوره دیوست یکس نمره اوادرس نه ولیکل شوي چي لوستونکي به ئي حیران کړچي داقاچاق چاپارکري ، اویه عین حال کي ئي به یونیم کس دڅه سیاسي باریکتیا له مخي څه ناڅه داسي پوهیده چي داقاچاق شایدیوداسي دستګاچي ګواګي په دیرچل اوچلوته سره اوباسي چي دلوستونکي ذهن بدل اودجریدي اصلي مټ اوچاپیدوځاي یي .مطبعه پیداتشي خوبیاهم باید سړي په دیرتاسف سره ووائي چي داجریده چلوونکي به بد پخپله دادرك کړي چي دپوسترمجاهد اوسیاست مفکراوبیادجهادیوموثر رهبردي داسي تهدیدشي چي په خوار کلن جهادکي به هغه تنظیم کمونستو داسي نوي تهدیدکړي . نوپه آخرکي زمونږټول مسلمان ملت اومجاهدولس دداسي غلچکي مطبعي بندول زرترزره غواړي اوکه ونشونوعواقب به ئي ددوي په تاوان وي .

\##########

اسلام آباد - کابل - اسلام آبادیوبل روندته ارتیاده

څلورمه برخه: قريب الرحمن «سعيد»

هنداعلت وچي حكمتيارتصميم. ونيوه چي دكافي مشورواووراندېزونووروسته دېوي متوازني كابينې دجوړېښت په هكله خپل پروگرام ته عملي بڼه وركړي. حكمتياردكابينې په جوړښت كي كوښښ وكړچي افغانانو اونړيوالوته ونښي چي دهېڅ ډول شخصي دښمني نلري، بلكه غواړي داسې يومتوازن نظام رامنځته كړي چي هرڅوك په كې برخمن وي، دبلي خوانه دجمعيت داستونزه هم حل شي چي كه احمدشاه مسعود ددفاع له وزارت څخه لېري كړل شي نوڅيرته به څه؟ ښاغلي حكمتيار

مسعود بې هم دخپلي كابينې غړي وگرځاوه. كه څه هم داسلام آباد دترون له پاره داخلاقي اوشفاهي تفاهم له مخي بايددوه مهم پوستونه يوه تنظيم ته نه واي وركړل شوي، اودمسعود جنجال دجمعيت خپل دردسرو، څكه چي كه پوهاندرباني مسعودته اهميت وركولي نوبايدخپلي كرسي په ځاي ئي هغې ته ترجيح وركړي واي، خوبياهم حزب اسلامي دخلاصي غيبي څخه كارواخست اوويي نه ويل چي احمدشاه مسعود دي هم لكه دپخواني صدراعظم استادعبدالصبورفريدپه څېر دپنجشيرپه ولسوالي كي خپلي جبهې ته ولاړشي. بلكه هغه ته ئي ترڅېل څنگ ځاي وركړ. امادي كارمسعود اودهغه دنظارشوراپه دي قانع نكړل بلكه پوهاندسياف هڅه وكړه چي مسعود اوملگري بي ددي پريكړي په خلاف راوپاروي اوپه دي ترتيب دحكمتيارپه مقابل كي خپله عقده حل كړي. دپوهاند سياف عقده ددي څخه ډېره ښه څرگندېږي چي دحزب اسلامي هيئت ته ئي چي په كاريزميركي دكابينې دجوړېښت په هكله ئي ورسره مشوره درلوده وويل چي حكمتيار ورڅخه څه برتري لري! چي هغه دي صدراعظم وي اوكابينه دي جوړوي! هغه له ماڅخه ډيرعالم دي! كه شهيدان ئي ډيروركړي اوياداچي زماڅخه ئي جهادډيركړي، زه ولي داكارونكړم زه دهغه څخه ډيرمستحق يم!

په هرصورت دكابينې لست دابريل په لمړي نېټه (۱۲ حمل) دحزب اسلامي دېوعالي رتبه هيئت له خوا دجمعې په ورځ جمهوري قصرته واستول شو. خوهلته هېڅوك نه و، نوپه دي اساس دغه لست اوضروري مكتوبونه ښاغلي عمادته دهغتي په سهارورو سپارل شول. صدراعظم حكمتياردجمهوررئيس رباني څخه غوښتنه كړي وه چي بايد دالست تررااتلونكي يك شنبي پوري اعلان شي. خوپوهاند رباني دهغې درسمي اعلان پرځاي فوتوكاپي جوړي اودهرچاپه لاس كي ئي وركړي، دبلي خوانه ئي دخپل وياندله لاري اعلان وكړچي جمهوررئيس حق لري په دي لست كي تعديل، ترميم وكړي اويائي مستردكړي. حال داچي داسلام آباد په ترون كي په دي هكله هېڅ ذكرنه شته. دبلي لوري دټولو بنديانودېربښولو په هكله صدراعظم دداخلي دوزارت سرپرست ته هدايت وكړ. دغنايي مرادوكميسيون، ددفاع دوزارت كميسيون، دانتخاباتوكميسيون او... ټولو ته هدايت وشو خپل كارونه پيل كړي، دآب وبرق وزارت ته هدايت وركړل شودبرق ترسيل دكابل ښارته اسان كړي...

خوبلي لوري ته استادسياف په عجله دلندن راديوسره خبري وكړي اودصدراعظم داختياراتودمحدوديت دپخواني كابينې دپرځاي پاته كيدواواحمدشاه مسعود ددفاع وزيرپه حيث ئي څه اعلانونه وكړل او په دي ترتيب ئي دمخالفت اوريوځل بيابل كړ.

په همدي ورخوشپوكي داسلامي تحريكونويوهيئت هم دقاضي حسين احمدپه مشري كابل ته راغلي و، اوطبعاً كله چي كوم عربي هيئت كابل ته تشريف راوړي نوپه هغې ورځ زمونږداهل تشيع افغانانوورځ ډېره بده وي، څكه په هغوي خامخاداستادسياف دمواضعوڅخه خوراكتونه راغورزي ترڅو عربوته داهل تشيع په مقابل كي خپله دښمني څرگنده اوثابته كړي. خبردي كه په دي دزو څوكسان په وينوكي لت پت شي اوياڅونوريتيمان شي په دي ورځو كي هم همداسي وشول. خوخداي فضل وكړاوهيئت ددوه دري شپوروسته ژرولاړاوپه دي ترتيب دجنگ مخنيوي وشو.

دكابينې دلست په سرجنجال په همدي حساس وخت كي پوهاندرباني يوځل بيادپخواپه څېرمولانافضل رحمان كابل ته دعوت وكړ. او ځانگړي الوتكه وروپسې پېښورته وليږله. ددي ترمخه استادرباني دجنرال حميد گل اوقاضي حسين احمد پسې هم خصوصي جهازونه پېښورته ليږلي و، خومتاسفانه چي قاضي حسين احمد ئي دېوي مياشتي سرگرداني څخه وروسته په موټركي مايوسه وليږه. نواوس ددي له پاره چي دپاكستاني علماوهمدردي ترلاسه كړي مولانافضل الرحمن ئي هم هلته راوست، مولانادوه ځلي پخواهم دكابل دوره كړي، اوان ترمزارشريف پوري رسيدلي خوداځل ئي په كابل اكتفاوكړه، اوپه هغه ترون كي ئي چي داته تنظيمونو دمشرانوپه واسطه لاسليك شوي څه خاميان راوويستلي اوهغه وچي په دي ترون كي نه خوددفاع دوزارت مسئله هواره شوي اونه دحل وعقد دشورا. نه پوهيږوچي مولاناپه سياسي لحاظ ولي داسي كمزوري خبره كړي، حال داچي دحل وعقدشورادټولو مجاهدينودتنظيمونو اوافغان ولس لخواپه يوه خوله مسترد شوي اوهغه يوجعلي كارگڼل شوي و، كه مولانا زمونږپه خوله باورنه كوي نوكيداي شي چي دخپلو پاكستاني هغه خبريالانوڅخه چي په دغه شوراكي موجودوو پوښتنه وكړي اوكه هغه غواړي نو نومونه به ئي مونږورته وركړو، دبلي لوري مولاناخود حكومتونوپه جوړولوكي پوره تجربه لري آياهغه په خپل هيوادكي ددفاع دوزارت له پاره دصدراعظم دانتخاب پرته بله كومه لاره لري اوكه څنگه، كه چېري په پاكستان اوياد نړي په نوروهيوادونوكي ددفاع وزيرهم دصدراعظم لخواټاكل كيږي نوپه افغانستان كي ورته ولي يوځانگړي قانون جوړشي!

په هرصورت مونږمحترم مولاناته پوره احترام لرواودهغه شخصي نظرگڼو، خودمولانا څخه گيله همداده چي هغه بايددستونزوپه حل كي تعاون كړي واي نه دستونزو په راپرسيره كولو اوافغانانوته دهغې په هكله دغلط تاثروركولوكي.

خوبه هرصورت مولانايونيك مرغه انسان دي چي كابل كي دوه ځلي دده ترمخه دمجاهدينومشران سره په خپلومنځوكي خبروته ناست دي، لمړي ځل داگست دجنگ نه وروسته په پغمان كي اودويم ځل داسلام آباددترون وروسته په پلچرخي كي.

په پلچرخي كي دحكمتياراورباني خبروته ډيرزيات انتظاراو، خو داانتظارهم مايوس كونكي و، دخبروپه جريان كي يودوست ماته وويل چي خبري هماغه وخت كاميابيږي چي دواړه خواوي په خلاص زړه اودستونزو دحل په خاطرراغلي وي، كه چېري كوم اړخ دخپله ځانه سره يوه پريكړه راوړي وي اوفكركوي چي داپريكړه كه ومنلي شوه نوترون به كوم اوكه نه نوبيرته به راگرځم، نوداسي خبري موافقت ته نه رسيږي.

دپلچرخي خبروعين قضيه درلوده، په دي اساس پريكړه ونه شوه، اوخبره هم ددفاع دوزارت په خواوشاكي راوڅرخيده داسي بريښي چي احمدشاه مسعود اواستادرباني كابل دجنگ كومه مورچه اوسنگرفرض كړي وي چي بايد په هيڅ قيمت بي يري نږدي، حال داچي په دي يولسومياشتوكي افغان قوم ديوقوم په حيث داسلامي حكومت منتظردي، امامتاسفانه چي دوي په وزارت دفاع كي دبدلون له پاره راضي نه دي، نه غواړي ددفاع وزات دلاسه وركړي. څكه هغوي خپل ژوندپه همدي كي متصوركوي، حال داچي قضيه دومره وره بايدونه څېړل شي.

جمعيت اسلامي يوسترتنظيم دي اوهغوي بايدپه خپل تنظيم دومره باورولري چي كه چېري تريولسومياشتو وروسته ديوي موقتي مودي په خاطر ددفاع وزارت له لاسه وركوي نوبيابه ئي دانتخاباتو وروسته بياترلاسه كړي. دبلي خوانه ددفاع په وزارت كي دبدلون پرته مسئله دحل لارنه شي پيداكولي. څكه همدااوس ددفاع دوزات ترنامه لاندي دنظاردشوراځواكونه دحزب وحدت، حزب اسلامي، جبهه نجات ملي، محاذملي او... په خلاف په جنگ كي اخته دي. په دي اساس په هيوادكي دامنيت دراوستلو په غرض بايددي ټولو قوماندانانواوتنظيمونوڅخه درانه وسايل راټول شي اوددفاع وزارت ته وسپارل شي.

(۵) مخ

چراغرب بنیادگرایي راعنوان مي کند

قسمت دوم "عديل"

مضمون مذكورازخودنويسنده است دربخش اول آن سهواً ترجمه تحريرشده

دربخش گذشتهٔ مقاله تحت همين عنوان كه قبلاً درشماره ۶۲۵ به نشررسيده است، سعي نموديم تااهداف غرب به رهبري امريكاراازعنوان نمودن بنيادگرايي واضح سازيم، اينك به ادامهٔ آن به توضيح مطلب مي پردازيم.

غرب به رهبري امريكا اين راهم تبليغ مي كندكه بنيادگرايان اسلامي مخالف حقوق زن هستند وآن هارانمي گذارند كه رول بنيادي خودرادرجامعه ايفانمايند! درحاليكه درگذشته وعصرحاضرتنهااسلام است كه حقوق انساني زن رابه صورت حقيقي آن رعايت نموده وآنهاراعضومهم ودرخوراحترام جامعه اسلامي به شمارمي آورند.

درجامعه اسلامي زن بامقام مادررادارد وبازن ودختروخواهرراكه هركدام درجاي خودازنگاه اسلام ازاهميت فوق العاده وقابل احترامي برخورداراست. برخلاف آن درجامعه به اصطلاح متمدن غرب وغرب زده ها اززنان چنان استفاده مي شودكه گويي متاعي بيش نيستند ومقام واهميت آن هادرهمان دايرهٔ نمايش زيبائي وارضاي خواهشات جنسي محدود است، چنانچه باهمه بي آزادي هايكه درروابط نامشروع زن ومرد وجوددارد وهيچگونه مانعي درراه مخالطت آن ها (قانوني واخلاقي) موجودنيست، بيشترين مورد تجاوزجنسي بالجبردركشورهاي غربي وخصوصاً امريكا صورت مي گيرد كه درمقايسه به آن دركشورهاي اسلامي چنين چيزي خيلي ناچيز ونادراست.

درمكاتب، دختران بالاترازدوازده سال مورد تجاوزجنسي قرارمي گيرند وعلاوه براين هافلم هاي برهنه اززن هاتهيه شده درتمام كشورهاي دنيا صادرمي گردد، اعلانات تجارتي، صنعتي و... همه توسط زن هادرحالت عرياني وعاري ازشرم وحياترتيب مي شود ومراكزاشاعه فحشادرهرگوشه وكناركشورهاي غربي وجود دارد وقانوناً موجوديت آنهامجازاست، حتي زن هابه صورت برهنه براي عرضه كردن خويش دركنار سرك حامي ايستند.

به اساس احصائيه گيري كه درامريكاصورت گرفته، درسال ۱۹۷۱ ميلادي چهل ودوهزارواقعه تجاوزجنسي بالجبردرين كشورصورت گرفته بودواين رقم درسال ۱۹۸۶ ميلادي به سه مليون هفتصدهزار واقعه ميرسيد، درحاليكه وجودچنين واقعاتي دركشورسعودي به هيچ برابراست.

همچنان به اساس احصائيه بدست آمده ازمكاتب كه درآنجا تحصيل مختلط دختران وپسران معمول است، درسال ۱۹۸۸ ميلادي يك مليون ازدختران بين سنين دوازده الي شانزده كه درمكاتب مصروف تحصيل بودند، باردارشده بودندكه بعدازآن تاريخ حكومت امريكابجاي اتخاذ تدابيردرست ودرخورشان انسانيت، تمام دختران بالاترازسنين دوازده تاهجده رابراي شش سال واكسين ضدحمل تزريق مي كنند وبه اين ترتيب زمينه بيشترهوس بازي وبداخلاقي هاي آنهارامساعدمي نمايد.

وبنابرهمين بي بندوباري هاي جنسي واخلاقي امراض ساري وخطرناك كه ناشي ازهمين بدكاري هااست دركشورهاي غربي عموميت پيدانموده وچون وبايي افراد وخانواده هاي مربوط به كشورهاي غرب رابه كام مرگ فرومي برد.

غرب ودرراس آن امريكادرمجموع ازعنوان نمودن بنيادگرايي اسلامي وبه بهانه آن دست درازي درامور كشورهاي اسلامي، اهداف ذيل راتعقيب مي كند.

۱- غرب به رهبري امريكا باعنوان نمودن بنياد گرايي اسلامي وتبليغات ناروا عليه آن مي خواهد چنان وضعي رابوجود بياوردكه مردم بنابراثرپذيري ازتعبيرهاوتفسيرهاي نارواي آن ها، بانام بنيادگرايي حساسيت پيدانمايند وازمنسوب ساختن نام خويش به آن اظهار خوف وياكراهت نمايند.

۲- جلوتوسعه اسلام دركشورهاي جهان راسدنمايند تاكسانيكه ازاديان تحريف شدهٔ غرب وپديده هاي ايديالوژيكي "جهان روگردان شده ودرجستجوي حقيقت سرگردان اند، به اسلام نه پيوندند.

۳- درانرتبليغات ناروا وغيرانساني رسانه هاي خبري و اطلاعات جمعي، مسلمانان درشرايطي قرارنگيرند كه اعمال هرگونه عمل جنايت كارانه عليه آنها ظاهراً موجه جلوه كندوغرب باوابسته گانش به راحتي بتوانند بدون عكس العملي درسطح ملي وبين المللي، اعضاي نهضت هاي اسلامي رادستگيرومحبوس نمايندورهبران شانرابااواردنمودن اتهامات نارواي دهشت گردي، تروريزم، وايجاد ناامني به كشتارگاه هاي وحشتناك خودبكشانندوبدون مزاحمتي ازجانب مردم، شهيدنمايند.

۴- غرب به رهبري امريكاي جنايت كاربتواند حكومات وابسته وحافظ منافع خويش را دربين كشورهاي اسلامي، دربرابرمسلمانان متعهدوهدفمند علناً حمايت كندواين عمل خويش رابدينگونه موجه نشان بدهدكه گويااازدولت قانوني يك كشوردفاع نموده وبه خاطرسركوبي گروهي به زعم خودش دهشت گردواخلال گر، ازآن حمايت به عمل آورده است.

۵- كشورهاي ماجراجوي غرب به رهبري امريكاي جنايت پيشه مي خواهند همدردي انساني ملت هاي خودراجلب نمايند وبراي اين منظوربه آنهاچنان وانمودمي سازندكه گويا آزادي، حقوق انساني، ديموكراسي، ترقي وتمدن وحتي حيات انسان ها، دركشورهاي اسلامي توسط بنيادگرايان به خطرمواجه شده است وآن هاروي اين دليل ناگزير به مداخله اند.

۶- وهمچنان عنوان نمودن بنيادگرايي بااين همه شوروهيجان توسط امريكاوحاميانش به اين دليل است كه بتوانند به عدم توجه، ناكامي ونابكاري هاي شان برمشكلات داخلي پرده بياندازندوتوجه مردم كشور هاي خودراكه پس ازسقوط سوسيال امپرياليزم روس وپايان جنگ سرد، بسوي مسايل داخلي كشانده شده، منحرف سازند وظاهراً بابه نمايش گذاشتن خطردروغين به اصطلاح بنيادگرايي اسلامي آنهارا غافل وازحقايق دورنگهدارند.

استمداد ازروشنفكران بي غرض وبي آزار

درسلسله نامهٔ يك خوانندهٔ شهادت نامهٔ اعتراض آميزي براي ماارسال كرده اند. درين نامه نويسنده همه رهبران ومجاهدين رامورد انتقاد قرارداده است. براي بررسي نقطه نظرات مختلف متن نامه رابه نشرسپرده وتوجه شمارابه توضيحات شهادت نيزجلب مينمائيم.

به اداره محترم روزنامه شهادت!

السلام عليكم ورحمة الله وبركاته!

اينجانب حاجي گلخان ساكن رحمن مينه كارته نوكابل فعلاً باشنده حيات آباد احتراماً عرض ميدارم اينكه:

وقتي كه پروفيسور حضرت صاحب به حيث ممثل رياست جمهوري واردكابل گرديد بعدازآن بين تنظيم هاي جهادي جنگ درگرفت. ازحصه رحمن مينه كارته نوشاه شهيدعليه رحمه خانه هاي مردم بيچاره ومظلوم ويران وبسياري مردم زندگي خودراازدست دادند وهم خانه هاي مردم چوروچپاول گرديد.

حتي درراه سياسنگ وكارته نوپول وبايسكل وجيب هاي مردم توسط دوستمي هاچوروچپاول گرديدومردم راخيلي اذيت نمودند ومردم مظلوم هم خانه هاي خودرا گذاشته به ملك هاي هم جوار آمده ومهاجرگرديدكه فعلاً تمام خانه هايي مالك مي باشد. اما تابه امروزسوال به ميان نيامدكه چوروچپاول وسرگرداني مردم، ازاينكه نفرهاي فاميل خودراازدست داده وشهيدشدند ودرين خانه هاي خوددفن گرديده چنانچه حكومت قلابي رباني وديگرتنظيم ها شامل جهادبودند خودرادرمقابل مردم مظلوم بي تفاوت گرفته آنهادم ازاسلام واسلاميت ميزنند، كدام قانون اسلام به اين هااجازه داده كه مردم بي دفاع ومظلوم افغانستان راخصوصاً مردم كابل زيربمباردمان وراكت هاي كوروفيرتوپ بگيرند. وشهركابل راتماماً ويران نمايند. دراين اواخرحزب وحدت تمام شهرراذريعه اسلحه ثقيله ويران نموده ومردم مظلوم آنراكشتاربي رحمانه نموده واموال وخانه هاي آنهارا چوروچپاول نمودند حتي درخانه هاي مردم درآمده وبه ناموس مردم دست اندازي كرده اند مردم رادرزمستان سردبه فراروترك خانه هاي شان نموده اندآيااينهابحضور خداوند چه جواب خواهند داد، چنانچه خودرا تيكه داران اسلام درجهان معرفي نموده اند، ماشاء الله رهبرهاي هرتنظيم مالك ميلياردهادالر جايداد وموترهاي لكس ازبركت جنگ درافغانستان شده اند اينهابايدافغانستان راگذشته به كداء جاي ديگر زندگي ارام خودراسپري نمايند. ومردم رنج كشيده افغانستان رابگذارند تايك حكومت بيطرف ازمردمان خيردوست واسلام اصيل تشكيل نمايند. وهم ازتمام روشنفكرانيكه درخارج كشوربابسيارآرامي وپول زيادزندگي مي نمايند چرادرباره اين مردم مظلوم وبيچاره افغانستان بي طرفي وبي تفاوتي رااختيارنموده است آيااينهاازپول همين بيچاره گان تربيه نشده وازپول همين بيچاره گان به زندگي ارام نرسيده اند.

مردم مظلوم وبي دفاع افغانستان ازملل متحد جداً خواهش مي نمايند تادرحصه حكومت آينده افغانستان همراي مردمان روشنفكروبي غرض يك حكومت [illegible] رادرافغانستان تشكيل [illegible]. زيرااين تيكه داران اسلام بالاي چوكي ها وقدرت جنگيده وهرگزنمي توانندبه مفاد ملت مظلوم، حكومت وكارنمايند، مردم مظلوم وآواره افغانستان آنهاراقطعاً قبول ندارند.

ناگفته نماندرشيددوستم ازكشتارمردم بيچاره ويراني خانه هاوچوروچپاول اموال شان به رتبه استرجنرالي رسيداوهم افراد خودراازچوروچپاول وكشتارافرادبي دفاع اداره وجلوگيري نتوانسته است هم چنان قوماندان هاي جهادي هركدام شان ازدرك چپاول مال هاي مردم وبيت المال وفروش سلاح هاي دولت وچورشده مالك ميلياردهادالرشده اند هرگزنميخواهند درافغانستان آرامي وامنيت رلقايم نمايند زيرااين هاامتحان خودرا درحصه چوروچپاول وراه گيري درمقابل مردم بيچاره وآواره نشان داده اند. حكومت نه ماهه قلابي معلم برهان الدين رباني نتوانست دردمردم بيچاره افغانستان رادواكندوهم ازساحه دوكيلومتري كابل بالاترقدرت اداره راندارد. ومن الله توفيق

انعکاسات

شهادت

حاجي صاحب گلخان! ازاينكه لطف نموده وبراي مانامه ئي ارسال كرده ايد گل وگلزارباشيد. شماازويراني كابل عزيزشكوه كرده ايدكه اين دردالبته دردهرافغان وهرمسلمان است. اي كاش مثل حالاكه ازويراني كابل مي ناليددرگذشته نيز كمي ازكابل بيرون مي آمديدوازبيست هزاروده قريه ايكه درگوشه وكناراين مملكت ويران وحضيرهٔ ساكنين آن شده است يادميكرديد.

شماهمه مجاهدين رامتخلف ومحكوم دانسته ايدكه اين كارمعقول ومنطقي نيست. ترديدي ندارد كه بعضي هااستفاده ناجايزنموده ومال ومنال راصاحب شده باشند، ولي همه مجاهدين وهمه رهبران كه اينطور نيستند، ازاين گذشته، خودميدانيدكه تهداب دزدي خيانت راهمان روشنفكران موردنظرشما گذاشته اند.. همانهاي گذاشته اندكه سالها به قيمت فقروسيه روزي اين ملت حكومت كردندوامروز باپول هاي غارت شده همين ملت درآغوش غرب بسرميبرند.

حكومت كمونستي كه متاسفانه شمادرنامه تان ازجنايات نابخشودني آنها يادنكرده ايدنيز درنقش قدم روشنفكران غرب زده حركت كردند همان رفقاي نجيب وببرك بودندكه بانزديك شدن سقوط رژيم كمونيستي سرمايه كشوررا غارت وپولهاي دولت رابه دالرتبديل نموده وباخود بردند، بخاطركارهمانها بودكه پول افغاني امروزارزش خودرا دربازارتبادله اسعارازدست داده است.

حاجي صاحب! مگرازيادبرده ايدكه درزمان حكومت هاي همين روشنفكران بقول شمابي غرض! افغانستان جز مستملكات روسي شناخته ميشدويك كشور حقيروگمنام وفراموش شده بود. اگرملل متحد وروشنفكران موردنظرشما ميخواستند كاري بكنند سالهاي سال زمينه براي شان آماده بود وحالاهم اگرعمل خيري ازدست آنهابوده باشد كسي مانع كارشان نميشود، بفرمايند "اين گزواين ميدان". ولي ملت آنهارا آزموده است وميدانيم كه فقروبيسوادي موجود مافسادداري وازهمه بزرگتروبدتروابستگي سياسي افغانستان درزمان قبل ازجهاد، همه ميراث كارهمين روشنفكران بود. دزدي هاوآدمكشي هاي فعلي نيز درنهايت حاصل مداخلات همين ها مي باشد.

درست است كه جنگ ميان مجاهدين وجود دارد ولي بدانيدهمه تنظيم هاازآنچه دركابل ميگذرد بيزاراند. اگر بدامني وحوادث ناگواري احياناً زيرنام كدام تنظيم صورت ميگيرد سرنخ آن بازهم دردست همان بقاياي رژيم كمونستي است. ازآن گذشته شايعه پردازيهاي ناروا عليه تنظيم هاي اسلامي ازجمله حزب وحدت جريان داده ميشودكه اين خود توطيه استكبار ودشمنان جهاداست. نوددرصداين شايعات اغراق آميزوخلاف واقعيت مي باشد.

مصيبت عظيمي كه ماوشمابه آن مواجه هستيم يكي همين است كه خودرابدون تحقيق وتعمق درمعرض شايعات قرارميدهيم واتهامات عجيب وغريب رادرحق برادران خود قبول مي نمائيم. حالا اگرطورمثال ازشمابپرسند هيچ ثابت كرده نميتوانيدكه كدام رهبروياكدام قوماندان آنقدر استفاده كرده باشدكه اندازهٔ آن به "مليارد‌ها" دالر برسد. حالانكه شماهمه رهبران وهمه قوماندانهارابه اين اتهام اغراق آميزوناروامتلزم مي نمائيد.ديگران راازحضورخداوروزقيامت ميترسانيدولي خودهيچ درفكراينكه

صفحه ۲

یاهوه

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته !
فریادهاي ازقعرولایه هاودلهاي کابل نفرین شده راشعرکردم / این مایه هاي اندوه را ، تقدیم مجلس جهادمرد مؤثروطن انجنیر حکمتیارصاحب مي نمایم" نظیرفریاد هموطنان را جزهموطن ، دادرس شنوایي نیست".

باامیدها :
کابل مکروریان
آئینه

شهرخون

آئینه

"بیشهٔ شیران" زبون درپنجهٔ کفتارها
دربهشتي باره غلطان طالب مردارها
اي سپهرواژگون دي اختران شبفروش!
تابکي چرخي به گردپاي کجرفتارها
ازنهانگاهٔ زمین وازفراسوي زمان
ازستیغ "آسه ماتي" وزپس دیوارها
پاسداران سلف بیندبدست ماندگان
خون وآتش راروان باخانگي کشتارها
"پولیگون ها" و"پلچرخي" وپرتاب ازهوا
باشکنجه خانه ها ، زیرزمین ها ، غارها
مذبح آدمکشي گردیدسرتاسروطن
جاده هاوکوچه هاشد،صحنه پیکارها
آزمونگاه سلاح مرگبارنوپدید
ساختندافغان زمین رااین جهانپادارها
مردمي ، جایش به سنگي آشیان ، مثل عقاب
مردمي فارغ زبندافسروافسارها
کودکانش چون سمندرهاي آتشبازها
نوجوانش بي هراس ازبرق آتشبارها
چارده سال این تکیده تختگاه پرشکوه
برج هاوکاخ هاومنبرومینارها
پایمال اهرمن هابودودژخیمان دیو
زیردست اژدران آدمي آزارها
خاك ها آغشته درخون، آب ها آلوده سم
بادها آتشفشان درکشورکهسارها
ني کرامت ني حیا ، ني بوکاروآشنا
واژگون ، پندارها ، گفتارها ،کردارها
خس رباوهرزه ویدکاره هاي بوسپي
خاین وجاسوس وشیطان پیشه ومکارها
ناگهان برثروت وناموس وکرسي ومقام
حاکم مطلق شدند وصدرخودمختارها
خلك میهن شدبدست خودفروشان ایدریغ
چون متاع دستگردان عرضهٔ بازارها
نوبدوران، پهلوي نوکیسه ونورس به صف
خودنمائي هابسي کردند باشهکارها
این بناي بي اساس وزرق وتزویرودروغ
پرشکست وریخت آخربرسرمعمارها
سوي"کابلراهمه" مردان مجاهدزیه پیش
تارهاندشهررا ازچاکران "زارها"
اي فسوساودریغا ،اینچنین فتح مبین
ني نجات آوردوني آرام وني تیمارها
هرگروهي باکلاشنکوف وراکت روي تانك
چهره برگنجینه هاشدبي گزندمارها
خوان یغماساختند ازشهربازبیدفاع
خالي وصالي سراي ومخزن وانبارها
داستان دوستان ودوستان داستان
بررخ امیدواران گردوا ، گلزارها
هموطن هاي مهاجر، پرکشودند ازسرور
کاروان هاسوي کابل شدروان باپارها
المجاهدفي سبیل الله" باسیف وقلم
تابه مرکز تاخت پیشاپیش خدمتگارها
چون سخنورهاي"جمعیت"، هواپیماشدند
آئینه ، هم درقفاافتادبازنگارها
"بیك" من ازغفلت یاران درون "خادشش"
رفت چون مال غنیمت درکف تگمارها
روزدیگرهدرطریق رادیوتیلي وژن
پرشکستم باخرام موترسالارها
درشفاخانه پلسترپوش گردیدم تمام
جفزي ودرزي بدن ، چون شیشه عطارها
حلقه هاراحلقه هادنبال کردوهاشد
یك گره ازعقدهٔ این رشته هاوتارها
شهرکابل فتح شدازجانب تنظیمیان
مال وجاهٔ حوزه هادرقبضه سرکارها
درمیان خون وآتش مانده چون سنگ صبور
رانده ها ،درمانده ها ، ازززندگي بیزارها
مثله وگردن زدن یاسوختن درکتشپر
جوروتعذیب وتجاوزبوداین جبارها
ازیتیم خانه به بازارکنیزان عرضه شد
دختران نورس پرورده ٔ "افشار" ها
چشم بسته، موکشان، دورازوطن بفروختند
تا زینان راچنین زینده ٔ بیمارها
این به آن و آن به این سرشاخ چون قچ هاي مست
مدعي درضبط وربط دالرودینارها
به نشدروزیدکابل، درین فتح الفتوح
دست هاکوتاه وخرمادرخم خمارها
ازپشاور آمدم بعدتداوي دروطن
چهره هادیدم بسان جاودان بیمارها
راکت ومیزایل واسکادوسکرچون تگرگ
ازهواي ریختي چون آتشین مسمارها
کشته وزخمي ، میان خون وآتش نیمه سوز
خانه ویران ، خاندان رفته نه آوارها
فاقه وفقرومصیبت بیدواوآب ونان
آه مظلومان روان تاگنبددوارها
درگریزازمرکزرانده به اطراف وطن
جمله گردیدند چون مرغ هواطیار ها
خیرخواهان ، بازنشستند بهرآشتي
یکطرف "حزب" ودگرسوجنبش وونظارهها
مدتي بایست تاخون شیرگردد لیك حیف
کیمیاهاي اثربگذشت واین تکرارها
زیرسرداردتهان ، اي هموطن بیدل مشو!
چرخ بازیگرازین بازیچه هابسیارها
بهرتحکیم وثبات دولت اسلامیان
دروطن برخاست جانبازان سربدارها
هرملنگي داشکه برشانه بست وبرفگند
سوته وکچکول وکرتا، چرمه وچلتارها
مي نمودند آشکارا ، این حریفان روبرو
هدگرراچنگ ودندان ، پنجه ومنقارها
وه که خون افتاددرکابلزمین باردگر
بي امان درکارشد، جنگي وجنگ افزارها
مي رسد شوراي "اهل حل وعقد" مملکت
شهرخون راتارهاندراي میهن یارها
کابل ویرانه ها ، بامردمش باشد چنین
مبتلادرقهروخشم قاهروقهارها
حاصل این فاجعه بیني که سرهنگان چند
شاخهٔ گل برزده درگوشهٔ دستارها
کاکهٔ عیاروسرتیرو جوانمردان کجاست؟
شهرشدجولانگهٔ شطارها ، چوتارها
ایخدا(ج) گسترده تاکي برزمین ترزخون
نشترومیخ وخسك ها ، بامغیلان خارها
"عاشقان وعارفان" "شه شهیدت" رویه حق
پاگداها ، خسته ها ، آزرده ها ، افگارها
التجادارد که بخشایش کني برشهرخون
همچوبرجان خلیلت ، سردسازي نارها
شهرکابل رابینم گلشن وبستانسراي
هموطن راشادوخرم باوطن دادارها
"آیدآن عیسي دم لقمان خصال خضرپي
آفتاب حق زدایدکلفت انکارها

توضیح "
۱- درافشاریتیم خانه ملي ساخته شده بودکه دختران وپسران صغیرپدرکشته درجنگهاراانجااعاشه وتربیه مي کردند .

دنارنج دگل په لرکي

اي دنارنج گله !

سیدولي "قاطن"

اي دنارنج گله ! ته ښکلادنوبهاریې
اوځومره بختوریې چې په برخه دننگرهاریې
دگلوپه گلشن کي،تنهاته په نښه شوي یې
ته دسولي گل یې ، چې دسولي طرفداریې
سوغات دسولي راوره،مونږجنگونیوځپلي
داوران ویجاړوطن کره راته جوړکه ته معماریې
مونږسوروخامارخوړلي اوپه سرولمبوسیزلي یو
ملهم دزخمي زړوشه، په رښتیاکه موغمخواریې
په سرووینونښرازکړي، شاځلمودډي وطن
اوس وشنده پري عطر، که پالونکی یې دمزاریې
په امن پاتي نه شوي،دخرسانو دپنجونه
دظلمه، دظالمه، گرډومات اوخواروزاریې
له غمه دبي وژلو سپین بشردي شي په زړبدل
بوراته خلاصه غیزه، دکارغه دسترگوخاریې
سپرلي دنوي کال دي ، رادبزه په مسکاکړ
ارام پسرلي راوره، که دمیني خوږبهاریې
په سپین رومال کره وچي، ترمي اوښکي دخوارانو
په خرتندیي ښکل کره، چي تسل ورته دپلاریې
راټول کره سره یوکره موروروونه پخلا کړه
دبل نه پوره نشوه، گله ! ته ولي "ناگار" یې
ژوندون چي ارام نه وي، گل،بهارمي پکارنه دي
سپرلي هغه سپرلي وي، چې بلبل له کله ځاریې
داځوارلس کاله کیږي مونږله دژونه خلاص نه شو
په نبض مي گوتي کښېږده که طیب دزړه بیماریې
نارنج دگل میله ده ، خلك دلي دلي درومي
غموجشن جوړکړي ، زما کورکي،که هوښیاریې
وژمي دسرکووینوبویوم دنارنج گل کي
همدا"قاطن" ته بس دي، مانه لري شه وژگاریې

څه فایده

سردارخان سیرت

چي درد ئې دزړه نه یې له ژړانه څه فایده
دهسي اشنائي اوله اشنانه څه فایده
چي تولو شپه شي،تیره اولایق دبخښش نشي
په هغوکه سباشي له سبانه څه فایده
په عمرکي چې یوځلي دچاپه ښه ورنشي
دهغوله ژوندون اودبقانه څه فایده
په خوئي اوپه اخلاقو داسلام چي ښکلي نه وي
دهسي رنگ سپین پوستوله ښکلانه څه فایده
په غله نظرچي زړه درنه په سپینه ورځي غلاشي
بیاهرځوکه قضاکړي له قضانه څه فایده
یوه لحظه سمون چي دریناوعمل نه وي
دهغوي عملوله وینانه څه فایده
تحفه کي په خنداخنداچي درگړي دیرغموته
دیارداسي تحفي اوله خندانه څه فایده
چي مدحه ئي عادت وي دمجازو پادشاهانو
دداسي زاهدانوله قبانه څه فایده
سیرته مجطري چي دگلوونږمي نکړي
له هغي پسرلي هغي قضانه څه فایده

میناي شکسته

طارق

ژبعدسالهادرکشورخون
به لیلاي وطن سرگشته مجنون
وطنداران سرودوصل گفتند
بسوي کشوردل پرگشودند
دریغالحظه هاي درگرربود
سرود ناله وخون جگربود
درآنجاهرکي باماروبروبود
سخن ازرفتن صدآبروبود
به پاس آرزوهاي گذشته
دوباره دل چومیناي شکسته
ربودند ــــت وبودکشورم را
به درد آغشته کردند پیکرم را
به این ویراني وسردرگمي ها
به این خون دل ونامردمي ها
نه دودي خیزدازخاکستردل
نه افسون آورد افسونگردل
نه آن شوري که لرزدپیکردل
نه آن دردي که گردد لشکردل

مخمس برغزل حافظ (رح)

فارغي

نسیم صبح نوروزي چودرگلشن گلنارآرد — سحاب رحمت حق زندگي درکشتزارآرد
توهم سرشارلطفي شوکه فضل کردگارآرد — درخت دوستي بنشان که کام دل ببارآرد
نهال دشمني برکن که رنج بیشمارآرد
خوشانوروزیکه درگلشن طرب فصل بهارآرد — نسیم مهروالفت موج فرحت درکنارآرد
دمیکندردلت فصل بهاران ذوق کارآرد — درخت دوستي بنشان که کام دل ببارآرد
نهال دشمني برکن که رنج بیشمارآرد
خوشاذوقي که مرغ زاررا درمرغزارآرد — خوشاوجدي که دهقانرابسوي کشتزارآرد
چوبادصبح نوروزي شمیم نوبهارآرد — درخت دوستي بنشان که کام دل ببارآرد
نهال دشمني برکن که رنج بیشمارآرد
همانروزیکه درگلشن گلنارآن شهسوارآرد — زفیض مقدمش گل آب ورنگي رویکارآرد
سرودشوق وشادي بلبل بیدل هزارآرد — درخت دوستي بنشان که کام دل ببارآرد
نهال دشمني برکن که رنج بیشمارآرد
بروقاصدبگوباساقي گلگونعذارما — بیادرگردش آورجام دربزم وقطارما
مکن پنهان رخ وزلفت زچشم اشکبارما — شب صحبت غنیمت دان که بعدازروزگارما
بسي گردش کندگردون بسي لیل ونهارآرد
شده تاازرموزمهروالفت باخبرحافظ — بجزراه محبت کي رود راه دگرحافظ
زبس چون فارغي عشق بتان داردبسرحافظ — درین باغ ازخداخواهد دگرپیرانه سرحافظ
بنشیندلب جوئي وسروي درکنارآرد

شعروادب درپرتوانقلاب اسلامی

دادچاله لاسه

محمدعارف «رحیمي »

زمادخوشحالي جشن چاپه غم بدل کړلو
دادآزادي جشن چاپه غم بدل کړلو
هره خوارحشت خپوردي جوړي بدبختي شولي
دادخپلواکي جشن چاپه غم بدل کړلو
وېني ئي رواني کړي جوړتري سیلابونه شول
زمونږدآبادي جشن چاپه غم بدل کړلو
ماني ئي وعدي کړلي وران ئي ولسونه کړل
زمونږدهمدردي جشن چاپه غم بدل کړلو
شرم حیانلري وژني مسلمان غازیان
جوړمودښادي جشن چاپه غم بدل کړلو
نورکه ورته صبرکړي صبرموگناه بولم
ستاسو نیك نامي جشن چاپه غم بدل کړلو
هرڅوك ئي ښه پیژني داائتلافي رهبر
ښه دوروړگلوي جشن چاپه غم بدل کړلو
بس کړه رحیمي ، بس کړه څه دخپل سنگرلورته
ستادځوانمردي جشن چاپه غم بدل کړلو

وپوښته

فضل هادي

وپوښته افغان دخپل لویدلي کوره وپښته
داوحشت تحپلي درستم له اوره وپوښته
مه کوه پوښتنه دهیواددتمدن ځني
راشه که غمخوریې دشهیدله موره وپوښته
وېني یې چي توي شولي دورودلسوزغاصب په لاس
چیغي اوویرونه ددردمني خوره وپوښته
خلك چي لاهوکړل دي دوینو طوفاني ځپو
واوره دامظلوم ولس دروس دزوره وپوښته
نن چي محشرشوي دي کابل مسلمانانوته
پربرده هوس پربرده داکابل له شوره وپوښته
وخندل گلانو استقبال دپسرلي لره
اوښکي دمظلوم یتیم دحال دسپوره وپوښته
ویي چي کړل خونونه کاني، بوټي یې پري رنگ کړلو
لاړشه داداستان له هره توره گوره وپوښته
اخلویه کسات گردي نړي ته به ثبوت ورکړو
مه کینه همداسي ظالمان له پوره وپوښته

زه افغان یم

حقیار

زه دتاریخ یوه نمونه یم جرئتونه ویشم
چي خپلواکي خوښوي هغوته رازونه ویشم
داستقلال اوآزادي درس راشي مانه زده کړي
زه دمیراني سربندني پیغامونه ویشم
آزادي نده پخپل سرلوبي کول یې گڼه
دخپلواکي خودمختاري خواره درسونه ویشم
داستعمار دسترگوخاریم غلامي نه منم
په چوپه خوله ټولي نړي ته عبرتونه ویشم
چي په ځان ویاړي اسارت ځني نفرت ښکاره کړي
په داسي قوم داسي ملت زه انعامونه ویشم
زه گداگرنه یم لاس مي دکرم پراخ دي
یم حاتم سخاکي پت عزت نذرونه ویشم
حرص مي خوښ ندي نه څه غواړم قناعت لرمه
خپله ناداریم خوپه نوروخیراتونه ویشم
زه خودعلم معرفت اوتمدن زانگویم
وایي (حقیار) ټولي دنیاته حکمتونه ویشم

څه دظلم پیلامه وه

ملااسدالله حنیفي

دادثورکودتاوه
که دوهمه کربلاوه
چمچه مست ډك وولډ وینو
څه دظلم انتهاوه
داسمان لمني سري وي
څه دغم تاري سوري وي
هرسري وینوکي رنگ و
وحشتونونظاري وي
دادثورفاجعه وه
خومره ستره سانحه وه
آزادي شمعه یې مړه کړه
څه دظلم پیلامه وه
سري گولي راوریدلي
هرخواوینې بهیدلي
خوشحالیوکډي وکړي
بوږي میندي ژړیدلي
دنگودنگو غروسروکي
دپغمان ښکلوتپوکي
بلبلان په غم اخته شول
هندوکش په گرنگوکي
غم دغم دپاسه غم وو
کورپه کور ویراوماتم وو
ترمي ترمي اوښکي تللي
هرسري سترگوکي نم وو

اسلام آباد -

وزارت کوي چي تولوته دمنلووروي له داسي وزارت چي تول ورسره دښمني ولري، په دي خاطرجمعیت باید داحقیقت درك کړي او ملت ته دسولي اوامن په لور دلاړښووني په غرض قدم پورته کړي پري نږدي چي تول قهرمان ملت دیوه شخص دخپل سریوقرباني شي. ځکه چي په نړي کي هغه ملتونه پرمخ ځي چي دهغي وگړي دخپل قوم نه قرباني شي، حال داچي دوي کوشش کوي تول ملت دیوه وگړي قرباني کړي.

ددفاع دوزارت اراده داده چي داسلام آباد دترون دنقض له پاره لاره هواره شي. ځکه په خپله احمدشاه مسعود زمونږیوژنداني ورورته چي نوي دهغوي له ژندان ځخه راخلاص شوي ذداخیره په داگه کړي چي داسلام آباد دترون نقض دېرآسانه دي اوهغه داچي که چیري لس ورځي جنگ وشي داقراردادپخپله نقض کیږي . داحمدشاه مسعود داخبره ممکن تریوه حده پوري حقیقت ته نژدي هم وي، خوپه دي لس ورځني جنگ کي به خومره پردي ځامن ستاداقتدار په خاطرمړي، څومره خلك به شل اوگوډ، اویتیم کیږي خومره کورونه به ورانیږي او... داټول په هغه پوري مربوط دي، خوکه چیري داسلام آباد ترون نقض کیږي نونقض به ئي یواځي دحزب له پاره مضرنه دي بلکه دپوهاندرباني جمهوري ریاست به هم پاي ته رسیږي . او بیابه بوځل هماغه پخواني حالت رامنځته کیږي . اوس خودچارآسیاب او بگرامیوځخه دتیلوشکي لکه دمیریانودقطارپه خیرکابل ته روان دي خوممکن بیاپه هغه وخت کي داپري هم ودریږي :

په کارخوداده چي په کابل کي ناست مسئولین دعقل نه کارواخلي داسلام آباد ترون چي دسولي اوامن له پاره په هیوادکي یوبنستیزرول لري بایدعملي کړل شي. حزب اسلامي ته چي اوس دهمدي ترون له مخي یوقانوني واك ورکړل شوي دحقیقت په خیردرك کړي اودکابل ښارته دنتوتلو دمخنیوي هڅي نې پریږدي .

له بلي خوانه دجهادي تنظیمونو تول هغه مشران چي داسلام آباد ترون ئي لاسلیك اوبیائي به بیت الله کي سوگندکړي خپل سوگندته وفاداروواوسي او تول دکابل په لورمخه کړي اوددي ترون په عملي کولو کي که ددوي دشخصي گټو په خلاف هم وي خودملت دگټوپه خاطر تشریف یوسي اوپري نږدي چي دکابل کوځي بوځل بیا دوینولښتي وگرځي همدارازداسلامي هیواد ونوکانفرانس اوضمانت کونکي هیوادونه دنظارهیئت جوړاودترون په عملي کولو کي په دواړو اړخونو فشارراوړي اوارونډي خواوي په جلال آبادیااسلام آباد کي دیوه بل راوندله پاره سره راټول اوگران هیواد ددي ستربحران ځخه وباسي .

######

په اسلام آباد او مکه مکرمه کې دوې معاهده صرف ددې لپاره ...

عهدکوي بیاخپل عهد تړینسولاندي کوي داالله (ج) لعنت اونفرین به دهغوي په حال شامليږي اوداطبیعي ده چې څوك داالله (ج) درحمت نه محروم شي اوالله (ج) دخپلي دګاه نه ورټي دهرچادنفرین اولعنت وړګرځي اودهغوي په زړونوکي به ترحم عاطفه اونرمي ختميږي قسي القلب اوبي رحم خبره، وجعلناقلوبهم قاسیه دعهدشکني په نتیجه کي مودهغوي دزړونو ترحم اوعاطفه ختمه کړه، بي رحم اوقسي القلب شو، هغوي به په کلام کي، خپلوژمنواوتعهداتو کي تحریف کوي داسي تاویلات چې له هغه نه په شاکیدل توجیه کړي، دعهدماتول اوتړینسولاندي کول توجیه کړي اوځان تبریه کړي ، یحرفون الکلمه عن مواضعهم په صفااوواضح الفاظوبه ئي تعهد کړي وي خوبه همدغه صریحو واضحو الفاظوکي به تحریف کوي. داالله (ج) په کلام کي به هم تحریف کوي اوخپل تعهدات به هم تاویلوي داسي چې په شاکیدل، هغه تړینسولاندي کول اودهغه نقض توجیه کړي اوځان په هغه کي تبریه کړي. داالله (ج) له دین نه خپله برخه هیرول اودعبرت اوپندااستعداد له لاسه ورکول، دهغوي لپاره بیاپند ګټه نه لري اوداالله (ج) دکتاب په کومي برخي چې هغوي ته پندورکړي شوي هغه هم هیرکړي ، دهمدغه عهدشکني په نتیجه کي به ګوري چې تل به هغوي په بوخیانت نه په بوخیانت ملوث وي که څه هم په دې مبارك آیت کی ددغسي

> **مقابل لوري غواړي ضعیف النفس خلك تطمیع کړي، په پیسوبي واخلي اوپه دې دول خپل اقتدارته دوام ورکړي**

عهدشکني دلي په باب دعفوي اواغماز اوهغونه دمخ اړولو توصیه شوي ولي قرآن عظیم الشان په بل ځای کي په هغه صورت کي چې هغوي جګړي ته لاس کړي کوي عهدشکني پخپلوژمنواوتعهداتونه ودریږي اوبرعکس هغوي جګړي ته لاس کوي نوپه هغه صورت کي بیاقرآن عظیم الشان ددوي په باب فرمائي: الذین عاهدت منهم ثم ینقضون عهدهم في کل مرته وهم لایتقون فاما تثقفنهم في الحرب فشردبهم من خلفهم لعلهم یذکرون . (انفال - ۵۶)

هغه کسان چې هرځل تاهغه سره عهدکړي خوبه هرځل کي هغوي خپل عهدماتوي او یوبخري له خدایه نه ویریږي نوکه داخلك تاته په جګړه کي په لاس درشي نوداسي څه ورسره وکړه چې له هغووروسته بل څوك داسي کوي چې هغوي خپل حواس بایلي هیله ده چې ژمني ماتوونکي دهغوي له عاقبت نه درس واخلي .

دقرآن عظیم الشأن ددي عهدشکني ډلي په باب همدغه حکم دي که هغوي جګړه نه کوله پس عفووده اواغمازاما که هغوي دعهدشکني ترڅنګ ځنګ ستاپرخلاف دجګړي اراده درلودله بیادقرآن عظیم الشان صریح حکم ددي ډلي په باب همدغه دي. داحکم دهغه چاپه هکله دي چې اهل کتاب دي. په خداي ، په آخرت ، په کتاب دایمان دعوي لري او فکرکوي چې جنت خاص ددي له پاره دي اونورکسان ددوزخ له پاره پیداشویدي دوي به خامخا جنت ته دروميي دغه داهل کتاب په باب قرآن عظیم الشان همدغسي فرمائي .

وروڼو!

ددي مقدمي سره راځم دیته چې په دې یوکال کي چې څه تیرشوي په اختصارسره به هغه خبره کوم بیاچي اوس مونږخه وکړوزمونږدملك

سیاسي اونظامي وضعیت څنګه دي، داوضعیت له مونږنه څه تقاضالري حزب اسلامي دجهاداوتحریك دموسس په حیث داملت هغه راولاړکړي، داتحریك هغه شروع کړي، داجهاد دهغه دقربانیو، شهادتونو، زندانونو، هجرتونو په نتیجه کي دې مرحلي ته رسیدلي ، اوس دملك نه په وتلو مجبورشوي، کمونستي رژیم نسکورشوي اوفرصت دي ته برابرشوچي اقتدارمجاهدینوته انتقال شي، حزب اسلامي اوس څه وکړي؟ مونږدغسي جلسي

دقوماندانانو علماوو، اهل رایه دمرکزي شورادغړوپه تورومستونوکي هم جوړي کړي داځل موپه دي سمت کي داسي یوغونډه ترتیب کړي . وروڼونه غواړوچې وس وکړو چې هغوي مونږته څه نظرراکوي نن دثورشپږمه ده تیرکال په همدغه ورځ زمونږپه خلاف په کابل کي جګړه پیل شوه، زمونږ مجاهدین په پنځم دثورکابل ته داخل شول، دنجیب حکومت نسکورشو، په ټولو دفترونوشنه بیرغونه اوچت شول اومونږدجګړي دپاي ته رسیدو اعلان وکړچي نوره جګړه ختمه شوي باید ټول جهادي ځواکونه یوبل ته لاس ورکړي اوپه پیښورکي چې په کوم مؤقت حکومت توافق شوي هغه دي راشي خپل کاردي عملاً کابل کي پیل کړي. خوسباله ئي په شپږم دثوردحزب اسلامي په خلاف په کابل کي کي جګړه پیل شوه اودهمغي جګړي لړي تردي اوسه

پوري جاري ده . مونږخپلوقوتونوته امروکړچي دکابل ښارنه ووځي نه موغوښتل چې په کابل کي کوڅه په کوڅه ، کورپه کورجګړه وشي زمونږځواکونه دکابل شااوخواسنګرونوکي ځای پرځای شول خودوي مونږهلته هم آرام نه پریښودو مسلسل زمونږپرسنګرونوباندي وږي وي، دکابل نه وتل هغوي په زوورتعبیرکول اوپه دي هم راضي نه وو چې دحزب قوتونه دي دکابل په شااوخواسنګرونوکي پراته وي .

دجګړي تاداودیونامقدس ائتلاف په لاس په کابل کي کیښودل شو. له هغه ورځي نه پس چې په کابل کي کومي پیښي شوي ، کومي جګړي شوي وینه توي شوي مرګ اوژوبله شوي ددي ټولو مسئولیت دهغه

> **نن په کابل کي دهیڅمال، سر، ابرواوعزت خوندي نه دي، بانکونه خوړېږده چې ددفترونومیز، چوکۍ اوفرش هم تالاشول**

چاپرغاړه دي چې په شپږم دثورئي په کابل کي جګړه پیل کړه .

ماخوورځي دمخه په پنځم دثوردمسعودسره دمخابري له لاري خبره کوله هغه ته موویل چې دمجاهدینو په خلاف یوه توطئه روانه ده اومونږددي توطیي دشنډولو له پاره خپلو ځواکونوته ویلي چې بایدخپل قوتونه دي دکابل طرف ته سوق کړي اوته ددي په ځای چې دهغوي په څنګ کي ودریږي چې لاسونه ئي دملت په وینوسره دي راشه دخپلو مجاهدوروڼوپه څنګ کي ودریږه .

ددي په ځای چې شوق کوي دهغوي په ټانکونوسپورکابل ته داخل شي راشه دخپلومجاهدو وروڼوپه څنګ کي ودریږه . ولي هغه داخبره کمه واوریدله. په هرصورت په کابل کي جګړه پیل شو جګړه هم دشوراي نظارقوتونونه ده پیل کړي تاسوته به په یادوي چې مسعود دوولس ورځي بعدددې جګړی نه کابل ته راداخل

شو دهغوي ترنامه لاندي دکمونستانو په لاس زمونږپه خلاف جګړه پیل شوه. جګړه کمونست رژیم نه پاتي مسلځو ځواکونو دحزب اسلامي په خلاف شروع کړه خودیوائتلاف تربردي اوپوښش لاندي متأسفانه چې دژبي سمت اواقلیتونوترنامه لاندي یونامقدس ائتلاف جوړشوبهرنیو ځواکونوغوښتل چې افغانستان تجزیه کړي دژبي ، سمت اومذهب په اساس اوله اوپودي مودي رادي خواته ئي همداسلسله پیل کیده چې باید تعصبات راوپاروي داخبره کیدله چې دوه نیم سوه کاله پښتنوحکومت کړي اواوس اقلیتونه دي ته تیارنه دي چې دپښتنوحکومت ومنيٰ له افغانانونه هیڅا داخبره نه وه کړي . داخبره دبي ، بي ، سي وه دادصداي امریکاوه ، هغوي غوښتل چې په افغانانو کي ناپوه بي عقله عناصروهڅوي هغوي ته همداذهنیت

> **موږ په دې خاطردادوه وزارتونه دوی ته نشو ورکولای چې په هغوي اعتمادنشي کیدای**

ورکړي داملي ، قومي اومذهبي تعصبات تحریك کړي زمونږ ملي وحدت ختم کړي افغانستان ټوټې ، ټوټې کړي، قومونه دیوبل په خلاف وجنګوي، داقلیت اوداکثریت په نامه ائتلافونه جوړکړي اوپه دي ترتیب پرینږدي چې په افغانستان کي دي یو قوي مرکزي حکومت دمجاهدینوپه لاس جوړشي باید مجاهدځواکونه په خپلومینځونوکي وجنګوي او شرایط دي ته برابرکړي چې کمونستان بوځل بیا په افغانستان مسلط کړي دروس دامپراتوري دختمیدونه بعدکمونیزم دیوخطرپه حیث دغرب په وړاندي مطرح نه و، بلکه برعکس کمونستي احزاب په اسلامي ملکونوکي اووددیمي ئي په ملکونوکي دغرب له پاره ترټولونه بهتره وسیله وه، ځکه هغوي داسلام په خلاف دغسي ځواك ، منظم ظاقت اوتنظیم اوحزب نه درلود چې له هغه نه استفاده وکړي . په دي ملکونو کي فقط کمونستي احزاب وو چې غرب کولي شي چې له هغوئه داسلامي تحریکونو، نهضتونو اواحزابو په خلاف استفاده وکړي. ددوي پلان داوچي دتاجکستان په شان پیښه په کابل کي هم تکرارشي کمونست عناصرسره منظم کړي هغوي تقویه کړي اوځیني مجاهدځا هم دهغوي په

څنګ کي ودروي ددي ائتلاف ترنامه لاندي داقوتونه سره رامنظم کړي اوبالاخره دمجاهدینوترمینځ دجګړي باعث شي، داجګړه په دي منتج شي چې جهادي تنظیمونه په مدار، مدارتضعیف شي اوشرایط بوځل بیادکمونستانو دتسلط دپاره برابرشي. داخبره پټه هم نه ده پاته شوي دامریکادستیت دیپارټمنت اوپنتاګون مسئولین په صریحو الفاظوواي چې مونږحزب اسلامي پرینښودچې کابل ته داخل شي اوقدرت ترلاسه کړي اوس داخبره په صریحوالفاظوکوي، هغوي واني چې دتاریخ دلسوخطرناکو انسانانوڅخه یوحکمتیار دي .

دادپنتاګون دمسئولینوخبره ده اودامونږووچي حزب اسلامي مونږپرینښودچي کابل ته ننوځي اوقدرت ترلاسه کړي. آیاربښتیادوه نیم سوه کاله پښتنوپه افغانستان حکومت کړي ؟ آیاربښتیاپه افغانستان باندي ملي ستم حاکم وو

؟ یوقوم په نوروقومونو حکومت کولو. حقیقت خودادي چې په افغانستان کي دیوخاندان حکومت وو اوهلته دیوقوم حکومت نه وو، دیوي کورنئي حکومت وو، نه پوهیږم چې کمونستان څنګه داخبره کوي، کمونستان خوهمیشه واني چې حکومتونه طبقاتي بنیادلري اودافغانستان په باب خودهغوي عقیده داوه چې دلته دفیودلیزم نظام حاکم وو، فیودالانوحکومت کولو،دلته طبقاتي حکومت وو خونن هغوي داشعارپړي اینبي هغوي هم ملي ستم عنوانوي ، دلته یوي قبیلي په ټولوافغانانوحکومت کولو، دلته دپښتنوحکومت وو . حقیقت دادي چې څوك دافغانستان داقتصادي اواجتماعي حالاتونه ډیره کمه پوهه اوبصیرت هم ولري هغه ته به داخبره څرګنده اوواضح وي چې په افغانستان کي دیوي قبیلي

حکومت نه وو، دافغانستان ترټولومظلوم ، بي وزلي فقیر، نیازمند اومحتاج خلك په جنوب ، په شرق اوپه غرب کي وو دپښتنوپه منطقوکي ، زمونږآبادي ځمکي شمال کي وي که په شمال کي ځمکي هم آبادي شویدي دکونړ دمشرقي اودجنوب نه خلك تللي دي په کونړکي اوس هم خلك پوستکي اغوندي، په جنوب اوپه شرق کي زمونږلوي سرمایه داربه شایدهغه وي چې شل دیرش جریبه ځمکه ولري، په دي ټول سمت کي به داسي څوك پیدانکړي چې سلو، دووسووجریبو ځمکوته ئي اقتصادي حالت ورسیږي ، ولي شمال کي داسي شته چې دوه زره ، دري زره ، څلورزره ، پنځه زره جریبه ځمکه لري یوکس ته، لس، پنځه ویشت اوسل جریبه ځمکه عادي خبره ده همدغه پښتانه دي چې تلل شمالي ته اوځنګلونه به ئي ابادول. دااوس چې تاسوشمال ته لاړشي دکونړغریب او بي وزلي خلك به ګوري چې په ځنګلونوکي لګیادي اوځنګلونه آبادوي اوپټي جوړوي، انسان تصورنشي کولای چې په دغوځنګلونوکي څوك شپه تیره کړي ورځ تیره کړي، په همغو ځنګلونوکي هغوي لګیادي شپه اوورځ زحمت باسي . نر، ښځه ترځوبویتي ځمکه ځان ته آباده کړي . په کونړکي اوس خلك نه ځائیږي دکورله پاره ځاي نه لري . دغړه په دوه کي دکورجوړولو باندي جګړه کیږي حاجي صاحب کشمیرماته ویل چې اوس مونږحیران یوچي دشیګل خلك چې بیرته خپلي دري ته ځي څنګه به هغه ځاي په ځاي کوو، هغه بله ورځ په یرلویشت ځمکه باندي جګړه شویده اوه کسان په قتل رسیدلي دي په دره کي نه ځائیږي اوس حیران یوچي داخلك چیرته ځاي پرځاي کړو، حقیقت دادي چې په افغانستان باندي یوي قبیلي حکومت نه دي کړي دیوخاندان حکومت اویوطبقاتي نظام و ټول ولسونه ، پرګني اوقومونه محروم اومظلوم وو په دي ټولو قومونو کي محدود کسان دغسي وو چې ترپرونه ورځي حاکمه اداره ئي جوړه کړیوه ، کم له کمه کمونستان خونه بایداخبره وکړي . مسلمان خوقومونه دعقیدي په بنیاد وېشي، دمسلمان له پاره خودملیت مفهوم دادي چې پرعقید جوړشوي وي نه دقوم ، دژبي، اوسمت په اساس سرحدباندي قایل نه دي دهغه له نظره خوعقیده

حدودمرزاوسرحد جوړوي مسلمان خوپه دي عقیده وي چې ټول انسانان دیوموراوپلارنه پیداشوي ، یوخداي پیداکړي ټول برابردي اودهغوي ترمینځ که فرق دي په تقوي سره دي . أسلام خودادرس مونږته راکوي چې کافردکافرولي دي، ظالم دظالم ملګري دي، منافق دمنافق ملګري دي اومؤمن دمومن ولي اوکارسازدي ، دادیوي دلي اویوحزب خلك دي، زمونږلارخوداوه . زمونږشعارخوهمداوو مسلمان په حیث خومونږباید داشعارورکړی وای

> **استعمارو تو اٸیده چې دقومي تعصباتوپه اساس لوی اسلامي امت په دوه پنځوسو ورووروملکونوباندي وویشي**

چې په افغانستان کي ازبك ، تاجك ، هزاره ، پښتون ، بلوچ ، عرب داټول وروڼه دي، دیوملت افراددي ولي متاسفانه څیني حلقي چې دکمونستانوپه لاس دوکه شوي ، هغوي قومي اوژبني تعصباتوته لمنه ووهله،غوښتل یي چې په همدي بنیاد یوه جبهه جوړه کړي، دسیاسي اغراضواومقاصدوله پاره ئي په دي بنیاد دیوي ائتلافي جبهي دجوړولو هڅه کړي اودحزب اسلامي پرخلاف ئي په کابل کي جنګ پیل کړ. دملي ستم نښي خودادي چې هلته دیوي ژبي تسلط وي دیوفرهنګ اوکلتورتسلط ، دیوقوم دژبي ، کلتوراودفرهنګ تسلط اوپه بازارونواوپه اقتصاد تسلط ، که چیرته یوقوم اوقبیله دیوملك په بازارونو اواقتصاد مسلط وي دهغه ژبه، فرهنګ اوکلتورمسلط وي دي حالت ته باید مونږملي ستم ووایو راشي وګوري چې په افغانستان کي کومه ژبه مسلطده حقیقت خودادي

> **تیرکال دثورپه پنځم دجهاددتاریخ سترقهرمان انجنیرصاحب بشیرشهادت یاردودي په لاس ترورشو**

چې نن مشترکه ژبه په افغانستان کي دري ده ، ازبك هم په دري خبرې کوي، هزاره هم په دري خبرې کوي، ترکمن هم ، بلوچ هم ، پښتون هم مسلطه ژبه په افغانستان کي دري ده . زه شل کاله دمخه ننګرهارته راغلي وم په پښتومي خبرې نشوکولي، څوکاله له یوکس سره په صنف کي په یولیلیه کي اوسیدم یوه

ورځ مي په پښتو خبره وکړه ماته ئي وویل چې ته پښتون ئي؟ په پښتوپوهیږي ، پوهیده چې زه پښتون یم. حقیقت دادي چې په افغانستان کي دري ژبه مسلطه اوحاکمه ژبه ده ، دااوس چې وګوري دلغمان مرکزکي څوك دي، دننګرهارپه مرکزکي څوکان په سرخرودکي څوك دي ، په ارګون کي ، په ګردیزکي ، په خوست کي بازارونه ټول ددري ژبوپه لاس کي دي حال داچي هلته ټول پښتانه اوسي. ددي معني داده چې په دې دوه نیم سووکلونوکي پښتنوحکومت نه دي کړي یوخاندان حکومت کړي . دابه دیرسفاهت اوناپوهي وي اوداستعمار په لاس دوکه کیدل، چې څوك په افغانستان کي ملي ستم اعلان کړي اووایي چې دلته دپښتنوحکومت وو مخصوصاً چې څوك مسلمان وي، ځان ته مسلمان وائي، مونږخوراپورته شوي یوچي ظلم به پاي ته رسوو، دیوقوم حکومت به په بل قوم ختموو، انسان به دانسان غلامي نه کوي، ټول به دیوخداي پرستش اوعبادت اوبندګي کوي، الهي عدالت به تأمینیږي ، ټول انسانان به برابر وي که بوبه بل امتیازاوبرتري لري په تقوي سره به وي، زمونږشعارخودادي مونږخو دامبارزه دهمدي له پاره پیل کړي چې په افغانستان کي هرراز ستم

اوظلم پاي ته ورسوو انسان دانسان غلامي اوبندګي ونکړي ټول دیوخداي پرستش اوعبادت وکړي . زه وایم چې یومجاهدچي داسلامي حکومت دجوړولو له پاره پورته شوي څنګه هغه داجرئت کړي چې په افغانستان کي ژبني قومي اومذهبي تعصب دراپاروي له پاره ملاتړي . په همدي اساس قوت جوړوي ، په همدي خاطر جنګیږي خپلوافرادوته همداروحیه ورکوي، که داخبره ربښتیاوي نوزه وایم، ته دانن ولي په

پروان کي جنګیږي ستاجنګ په کاپیسا کي څه معني لري په تخارکي جنګونه دڅه دپاره وو.

تیرکال په پنځم دثورانجنیرصاحب بشیرشهادتیاردودي په لاس تروږشواوزه هغه دافغانسان دجهاد دتاریخ سترقهرمان اوترټولو سترشخصیت ګڼم. که دلته دژبي مسئله وي نودغسي یولوي شخصیت چې مونږورته ډیره توقع اوامیدونه درلودل، تارلي هغه تروږکړ، هغه خوستادژبي اوسمت سړي وو ولي په تخارکي جنګیدي ؟ دااوس ولي تاخپل ټول قطعات صرف له پنجشیرنه انتخاب کړي که هلته مسئله دسمت وي، داقلیتونووي، دژبي وي نوداتورهم ستادژبي خلك دي، داتورهم ستادسمت خلك دي ، دهغوي لپاره ولي قطعات نه جوړیږي ؟ ولي له هزاره وسره وجنګیدلي؟ شپژاوه خونړي جګړي ولي په شیعه وو باندي تحمیل شوي ، ولي چنداول ، کارته سخی، جمال

مینه بمباردشول . په تیرکال کي لس جګړي وشوي، اکثره ئي دهمغوپه خلاف وي چې په ائتلاف کي شامل وو داټول ثابتوي چې دلته دصف بندي اساس،ژبه اوقومیت نه ده، دایوکاذب اوغلوونکي شعاروو، په دي سره صرف سیاستمداران غواړي خپلو مقاصدوته ورسیږي ، ناپوه، بي عقله خلك دوکه کوي دخپلو مقاصدولپاره یې استعمالوي، قرآن عظیم الشان دنوح علیه السلام په قصه کي همدامسئله رااخلي دقوم ستادیدو چې غوښتل ئي په اقتدارکي پاتي شي نورټولوسترمکرچي دنوح علیه

> **هغوي تراخره په دې اصرارکولو چې وزارت دفاع اووزارت داخله دې هم جمعیت ته ورکړي شي**

السلام په خلاف یې پیل کړهغه دمذهب ترنامه لاندي دقومي تعصباتوپه اساس دنوح علیه السلام دقوم تحریکول وو ، دسیاستمدارانواود قدرت دوزوترټولولوي مکردي، همداکسان دي چې قومي تعصبات دخپلو سیاسي اغراضولپاره تحریکوي، ددي پرواهم نه لري چې له دي سره ملك تباه کیږي دااستعمارتوطئه ده ، استعمار وتوانیدي شوچي لوي اسلامي امت دهمدغوقوي تعصباتوپه اساس په(۵۲) ورو، وروملکونوباندي وویشي، امریکاکولاي شي دوه پنځوس ایالتونه سره راغونډکړي ولي دلته دافغانستان په شان یوملك هم نشي ځغملي چې دادي یومتحد حکومت ولري استعمارپه(۵۲) ورو، وروملکونوباندي قانع نه دي ؟ غواړي نورئي توټي هم راپیداکړي اوچې چیرته هم په یوملك کي دملي وحدت اویووالي خبره کیږي هغوي ته دخطرزنګ حیثیت لري،

دهغه دتکولو اوختمولو کوشش کوي .

وروڼو! په تیریوکال کي کابل دخونړیوپیسوشاهدووچي په نتیجه کي په سلهاوو زره کسان پس له هغه چې کورونه‌ئي په توپونو،ټانکونو اودبمباریو په نتیجه کي وران شول دکابل نه وتلو ته مجبورشول اوداړي ترنن پوري جاري ده ، په لس هاوو زره کسان په خپلو وینو کي لت پت شول دکابل ترنیمائي زیاته برخه ورانه شوه ټول ملي شتمني تالاشوي ، بانکونه خو پریږده . ددفترونومیز، چوکي اوتیلفون ، فرش اوظرف هم تالاشو نن په کابل کي دهیڅمال ، سرآبرواوعزت خوندي نه دي .

هرځل معاهدي شوي، ولي مقابل طرف دخپلو ژمنو اوتعهداتوهیڅکله اوهیڅ بند مراعات نه دي کړي، آخري ځل داسلام ابادمعاهده وه ، ګمان مونه کولو چې له دغسي تاریخي معاهدي نه دي په دي آسانئ سره مقابل طرف په شاشي، داسي یوه معاهده چې ټوله دنیادهغه شاهده اوګواه وه دوه ځله دهغه په پاي کي امضا شوي په حرم کي دوباره تجدید عهدشوي، ټول عالم اسلام، ټوله نړي دټولواحزابو رهبران په دي معاهده یاامضاکړي یا دمعاهدي شاهداوګواه دي، مونږ ګمان کولو چې شاید اوس مقابل طرف دهرحرف او دهربندصادقانه التزام ولري، ځکه هغوي جنګونه وازمویل څه ئي ترلاسه نکړل، هرځل هغوي په جګړه کي شکست خوړلي، شاید ددي نه بعد پداسي جنون آمیزه اقدام لاس پوري نکړي، بیاجګړي ته زړه ښه نکړي اوکیدای شي دافغانستان بحران داسلام اباد دمعاهدي سره سم حل اوفصل شي. که څه هم دهغوي په سیمااوڅیروکي موهم دابه صریح ډول محسوسوله چې له دي معاهدي راضي نه دي شاید دهغي په نسبت التزام ونکړي،غواړي چې داموجوده حالت ادامه وکړي ، دنوي کابیني سره توافق ونکړي همداسي وشول، دوي هغوینځوکمیسیونونوته چې په کاروه په معاهدي دامضاسره سم جوړشوي واي اوخپل کارئي پیل کړي واي ، نماینداګان یې معرفي نکړل . په معاهده باندي په دي شرط امضاوشوه چې کابینه به په دووهفتوکي جوړیږي په دغودووهفتوکي به پنځه کمیسیونونه خپل کارپیل کوي، دوزارت دفاع دقطعاتو دسوق اداري اوداکمال کاربه ټول دیومشترك

کمیسیون له خواترسره کیږي چې په هغه کي به دهرتنظیم دوه ، دوه غړي برخه لري اوټول مالي اوبانکي اموربه دمربوطه مالي کمیسیون له خوا کنترول کیږي چې په هغه کي به دهرتنظیم نماینداګان برخه لري ، دسوخت او غذایي موادو دترلاسه کولو اوتوزیع لپاره به یومستقل کمیسیون دټولو تنظیمونو په نماینداګانوشامل جوړیږي اودارازکومکونه به یوازي دهمدي کمیسیون له لاري ترلاسه کیږي اوپه مستحقینو باندي به توزیع کیږي،اوپه باندي ونظارت کمیسیون اودانتخاباتواصلاحیت اومستقل کمیسیون چې هیڅ اداره دهغه په امورکي دمداخلت حق نه لري په شپږومیاشتوکي انتخابات ترسره کوي اوپه دي موده کي به یو قانون سازه منتخبه شوراجوړیږي دغوکمیسیونونوته تراوسه پوري جمعیت خپل نماینداګان نه دي معرفي

(۷) مخ

په اسلام آباداومکه مکرمه کې

کړي، همدارازفیصله شوي وه چې په معاهده باندي دامضاسره سم به ټول بندیان بلاقیداوشرط اوفوراً خوشي کیږي ترڅنه پوري هغوي بندیان له ځان سره ساتلي ،توافق شوي وو چې په دوو هفتوکي به نوي کابینه جوړیږي پردي فیصله نامي باندي رئیس دولت ، صدراعظم دټولو تنظیمونورهبرانوامضا کړي معنی ئي داده چې په دوو هفتوکي به نوي کابینه جوړیږي اودزوړي کابینې ځاي به رانیسي له دوهفتوله تیریدو وروسته زړه کابینه هیڅ قانوني اوشرعي حیثیت اواعتبار نه لري ولي ددي مودي له پوره کیدونه بعدرئیس دولت زړي کابینې ته دکارداامې فرمان صادروي، په معاهده کې په صریح الفاظوویل شوي چې کابینه به دصدراعظم ترسرپرستي لاندي دیومتحدټیم په حیث عمل کوي یعنې کابینه به درئیس دولت تراشراف لاندي کارنه کوي بلکه دصدراعظم ترقیادت لاندي به کارکوي. ولي هغه ځان ته خپله زړه کابینه ساتلي اودهغه دفرمان لاندي اوسرپرستي لاندي کارکوي، دادمعاهدي نه صریح تخلف اوبه شاکیدل دي. توافق شوي وو چې په دووهفتوکي به کابینه جوړیږي اودهمدي له پاره مؤقت اوریند اعلان شو، زمونږموقت اوریند ددوهفتوله پاره وچې په دغوهفتوکي به کابینه جوړیږي ، دکابینې داعلان نه بعدبه دائمي اوریند اعلانیږي . ددوو

هنتومشوري په څلوروهفتویدلي شوي ، په کارداوه چې دجلال آباد په غونډه کي ټولو رهبرانوبرخه اخیستي واي، مخصوصاً ددولت رئیس ځکه هغه پیشنهاد کړي وو چې دکابینې دجوړولو غونډه به په جلال اباد کې وي، ټول رهبران به په هغه کې شرکت کوي متاسفانه هغه پخپله حاضرنشو .

هلته ددوي نمایندګانوویل چې داجلسه دي یوه هفته نوره وځنډیږي، راتلونکي جلسه چې په نهم دحمل به په چهارآسیاب کي وي ټول مشران به په خپله شخصاً شرکت کوي اوکوم رهبرچي ونشوتوانیدلي په دي غونډه کي شرکت وکړي بیابه کابینه دصدراعظم له خواجوړیږي اوهغه رهبربه دشکایت اوداعتراض اوانتقادحق نه لري، دالیکل شوي، دهغه په پاي کي ددوي وکیلانو، نمایندګانوامضاکړي. په نهم دحمل جلسه کي هغوي بیاشرکت ونکړ موتږبوه ورځ ، دوي ورځې درې ورځې، څلورورځې نورهم داموضوع وځنډوله ، له نهم دحمل نه دیارلسم دحمل ته جلسه معطل کړي شوه بالاخره هغوي وویل چې نورګډوغونډوته ضرورت نشته کافي مشوري شویدي ، مادکابینې لست جوړکړاورئیس دولت ته مي داعلان له پاره ولیږلو، خوداخبره مي افشاهم نکړه ، دمطبوعاتي کنفرانس په ترځ کي مي خلکوته معلومات هم ورنکړل قصدمي داوو چې کیدای شي په دي موده کي مزیدتفاهم ته ضرورت پیداشي ، په کابینه کي که رداویل ترمیم اوتعدیل راځي ددي مجال میسروي، ولي هغوي ددي په ځاي چې دکابینې دجوړولو داعلان

په هکله مرسته وکړي برعکس کوشش ئي وکړچې ځیني تنظیمونه په پیسوواخلي، ځیني تنظیمونه قانع کړي اوددي کابینې په خلاف بي ودروي ترڅنه پوري هغوي کابینه اعلان نکړه دهغوي ټول اصرار دادي چې وزارت داخله اووزارت دفاع دي

وزارت دفاع دي دمسعود سره وي اووزارت داخله دي د انجنیراحمدشاه سره وي دوي ته دامهم نه دي چې بیاجګړې پیل کیږي اوکابل مزیدورانیږي بلکې دوي په هرقیمت غواړي چې دا چوکې ددوي په لاس کې وي.' دادي عملاًګوري چې په پروان کي بې جګړه پیل.کړه په کاپیسا کي بې لویه جګړه پیل کړیده ، دااوس ، اوس مونږدلته ناست یو په پروان اوکاپیساکي جنګ روان دي له لسوورځونه رادي خوا براي نام وزیردفاع پروان تللي ددغه جنګ له پاره تیاري نیسي جنګ اوس همدي وزیردفاع ترسرپرستي لاندي په پروان اوکاپیساکي روان دي، ددي معنی داده چې دوي دااوریند هم صرف ددي له پاره غوښته چې په کابل کي آرامي وي اویوطرف دهغه په نسبت التزام وکړي دوي مزیدفرصت اودجنګ له پاره ځان برابرکړي اودوباره په مناسب فرصت کي جنګ پیل کړي، داسلام آبادمذاکرات اومعاهده په اسلام آباداوپه مکه مکرمه کي دمعاهدي په پاي کي امضاداټول ددوي له پاره، صرف ددي مقصدپه خاطروو چې دجنګ له پاره فرصت ترلاسه کړي ځان بیابرابرکړي اودادي عملاً ئي په پروان اوپه کاپیساکي جنګ پیل کړي. دمذاکراتو له پیل نه تردااوسه پوري داسي ورځ نه ده تیره شوي

چې په کابل کي هغوي دمقابل طرف په سنګرونوباندي مسلسل انداختونه نه وي کړي ، هره ورځ په کابل کي

همدااوس هم ددفاع وزیرترسرپرستي لاندي په پروان اوکاپیساکي جنګ روان دي

کم له کمه په متوسط طوره لس اتونه ترپنځوس کسان باشهیدان شوي بازخمیان شوي نه وي . په کابل کي هم اوس دیوي بلي جګړې له پاره ځان برابروي له جنبش سره هغوي تماسونه نیولي ، هیئتونه لیږي، امتیازات ورته ورکوي هغه تشویقوي چې په جنګ کي دهغوي په څنګ کي ودریږي. دااوس هم دهغوي هیئت په شمال کي دي، داستاد رباني رسمي مکتوب ورسره دي، خوجنبش تراوسه پوري داخبره له هغوي سره نه ده منلي چې په جنګ کي دهغوي په څنګ کي ودریږي . تاسوبه اوریدلي وي چې په همدغه تیره هفته کي دروسیې نه دوطن دحزب دمرکزي کمیټي غړوشامل یووفد، فریدمزدك ، نجم الدین کاریاني، عبدالحمیدمحتاط دځوکانټینټرویپسو سره کابل ته راغي ، دهغوي کوشش دادي چې دحزب وطن پاتي مسلح قطعات په جنګ کي دهغوي په څنګ کي ودریږي اودحزب په خلاف مشترك نظامي جبهه پرانیزي .

په همدغه موده کي هغوي نوي قطعات جوړکړي تاسودرادیوله لاري اوري، ، دجمعیت فلان قوماندان، دقول اردوقوماندان وتاکلي شو، دفرقي قوماندان وتاکلي شو دومره امتیازات ورته ورکړي شول. په جنوب کي دجمعیت قوماندان دزون قوماندان،، په تخار کي دهغوي قوماندان په پروان کي دهغوي قوماندان ، په بغلان کي دهغوي ، په کندزکي دهغوي ، په ټولو ولایاتو کي هغوي صرف دیو تنظیم له پاره قطعات جوړوي ، په داسي حال کي چې په معاهده کي په صریح الفاظو لیکل شوي چې له دي نه بعدبه داردوقطعات ... دمشترك کمیسیونوپه لاس جوړیږي ، داکمیسیون به دقطعاتوسوق اواداره په لاس کي اخلي . داکمیسیون به داخبره تضمینوي چې له دي نه بعدملي شتمني به پشخصي قطعاتو باندي مصرف نشي، په صریحو الفاظوبه معاهده کي دالیکل شوي

چې هغوي رسماً درادیواوتلویزیون له لاري نه داخبره اعلانوي چې دلته اوهلته دجمعیت دقوماندانانو لپاره قطعات جوړشول . قطعات هم نه دي فقط دباتکونو نه پیسي اخلي همغه سابقه جبهات دي دنوروپه خلاف ئي په جنګ کي استعمالوي . نن ددولت ټول امکانات دیوتنظیم په لاس کي دي .

کاشکي دتنظیم په لاس کي وي بلکي دغلو، داړه ماراتو په لاس کي دي چې نن په کابل مسلط دي اودکابل هرڅه ئي تالاکړي ته دخلکومال خوندي دي نه ابرو حیثیت اوعزت . زمونږپه تاریخ کي شایدداسي پیښه بیانه وي تکرارشوي.

په غاړه نه اخلو.ټول تنظیمونه دي کښیني په خپلو مینځونوکي دي په داسي یوي اداري توافق وکړي چې ټول تنظیمونه دهغوي مرسته وکړي، امنیت راشي جګړه پاي ته ورسیږي ولي هغوي ترڅنه پوري په همدي خبره اصرارکوي چې وزارت دفاع اووزارت داخله دي ددوي په لاس کي وي ، اصلاً هغوي غواړي چې ټول اقتداردوي په اختیارکي وي اونوروته تسلیم شي کاش هغوي کي دومره ظرفیت واي ، کاش په دوي کي دومره توان اوطاقت وي چې ملك بي اداره کولي شوي، مونږبه لاسونه اوچت کړي وو دوي ته به تسلیم شوي وو چې داملك تاسي اداره کړي خومونږ باورلروچي که داتن مونږهمدافیصله وکړو چې یو څه وخت انتظارکوو داحالت پریږدو، سیاکمونستان دوباره په کابل باندي

دوي هغوپنځوکمیسیونو ته هم نمایندګان معرفي نه کړل چې پکاروه دمعاهدي له امضاسره سم یي پکارپیل کړي واى

په اسلامي دولت کي داسلامي دولت پاسداران، په پایتخت کي ، دیوي پیغلي په عزت دتیري په نیت کورته ننوځي خوهغه پیغله مرګ ته ترجیح ورکوي خوپه خپل عفت اوآبروباندي تیري نشي منلي، دخلورم چت نه ځان غوزاروي دناهیدي قصه به تاسوتولوته معلومه وي، دشوراي نظارمسلح غله ، داړه ماران په دریم مکرورویان کي کورته ننه وځي اوهغه پیغله باایمانه اوباعزته چې ګوري بله چاره نه لري دروازه په ځان پسي ترې پدي هم نه کیږي بالاخره له خلورم چت نه ځان غوځاروي.

زمونږبوناهیدخوردروسانوپه وخت کي تتردګولیوسپروګرخولواوپه شهادت یي ورسوله،بلي ناهیدي په اسلامي دولت کي په اسلام .

نن په کابل کي فقط څه مسلح غله حکومت کوي ، هلته اداره نشته ، حکومت نشته ، په هره کوڅه کي په هره ناحیه کي بیل اومستقل حکومت دي څوك چې راکټ لري هغه حکومت کوي عادي افراد خوپریږده چې حتي رئیس دولت خوندي نه دي ، دوزیرداخله دوه موټر اختطاف کیږي .

وزیرداخله اووزیردفاع پل محمودخان نه نشي تیریدي ،جاده میوندته نشي داخلیدلي له ګمرك نه نشي تیریدلي، رئیس جمهورغواړي دځوتانکونودیوقطارسره دګمرك نه تیرشي پل چرخي ته لاړشي نشي کیدلي بیرته له نیمائي لاري ګرځي، یوکال هم دمجاهدینوپه حکومت تیرشوي، نن دکابل په هیڅ ناحیه اوکوڅه کي امنیت نشته اداره نشته، مونږزیات کوشش وکړچې جمعیت په دي قانع کړوچې دمذاکراتوله لاري دافغانستان مسئله حل شي ټولوته دمنلووړ یوحکومت جوړشي،دیوتنظیم جکومت نورنشي منلي ، داچې وزارت دفاع اووزارت داخله دي دریاست جمهوري په څنګ کي دجمعیت په لاس کي وي په دي سره که دافغانستان مسئله حل کیدلي خوپه تیریوکال داستاسي په لاس کي وو، مونږدي ته تیارنه یوچې وزارت دفاع بیاهم ددوي په لاس کي پاته شي ، وجه ئي بالکل واضح ده همدغه مهم وزارتونه وزارت دفاع اووزارت داخله دواړه ددوي لاس کي وو په تیریوکال کي لس جګړې وشوي نیمائي کابل وران شوي په زرګونوکسان په قتل رسیدلي په لکونوکسان هجرت ته مجبورشوي هغوي ونشوتوانیدلي چې دکابل دیوي وړي برخي امنیت هم تأمین کړي ددي معني داده چې دوي په خپل کارکي ناکام شوي په کارخوداوه چې هغوي اعتراف کړي ولي چې مونږدکابل اداري اودملك له کنترول نه عاجزاوناتوانه یو، مونږاستعفي کوو مزیددامسئولیت

مسلط کیږي ، دوي دکابل داداري او دملك داداري توان نه لري، داظرفیت په هغوي کي نشته ، جمعیت اوس ددوو منطقوپه تنظیم بدل شوي پنجشیراویفتل جمعیت هم اوس نه دي اصلاً شوراي نظاراوشوراي نظاریعني دپنجشیرڅه قطعات ، داوزارتونه په دي خاطر هم هغوي ته نشو ورکولي چې په دوي اعتمادنشي کیدلي، دخلوارلس کلن جهادپه اوږدوکي هرځل هغوي داسي څه کړي چې په دوي باندي مزیداعتمادبه کمال دسفاهت وي ، دادیوکال په جریان کي چې هغوي څه کړي په دوي باندي اعتماد نشي کیدلي باوروکړي چې که په دغوخلکو باندي اعتمادکیدي شواي مادي ته ډیره ترجیح ورکوله چې داموقت حکومت موټول هغوي ته پریښي وي، پس له شپږواوومیاشتوانتخابات شوي واي اوقدرت یومنتخب حکومت ته انتقال شوي واي. داموډیره بهتره اوغوره ګڼله خوهغوي غواړي چې دټل له پاره قدرت ددوي په لاس کي پاتي شي هغوي انتخاباتوته تیارنه دي هغوي په قدرت کي دپاته کیدلوله پاره هره ګناه اوجرم جائزګڼي کمونستانوسره ائتلاف کوي، قومي

لس ورځې وړاندي په نامه وزیردفاع پروان ته تللي اوحزب پرخلاف دجګړې تیاري نیسي

اوژبني تعصبات پارول دملك دتجزیي په قیمت ، دکمونستوجنرالانو ترقوماندي لاندي دمجاهدینوپه خلاف جنګیدل، دوي په اقتدارکي دپاته کیدلوله پاره هرڅه جائزګڼي .

نه دهغوي په قول باورکیدي شي نه امضا نه په تعهد نه په قسم ، یعني چې داسلام آباد دیوتاریخي اوستري معاهدي چې ټول دنیااوعالم دهغي شاهددي دهغه نه په دومره آساني سره هغوي په شاکیږي نه پوهیږم هغه به کومه خبره اوتعهدوي چې دوي به پري عمل وکړي اونوردي پري باوراواعتمادولري .

مونږخوهیڅ مجاهدنشوقانع کولي چې هغه چاته دي خپله وسله تسلیم کړي اوهغه دي دخپل وزیر دفاع په حیث ومني چې تیریوکال کي مسلسل دکمونستانو په څنګ کي اودهغه ترقوماندي لاندي ددوي په خلاف جنګیدلي، زمونږمجاهدین خودي ته تیارنه دي مایه صریحوالفاظو استاد رباني ته داخبره وکړه ، ماته خپلوقوماندانانواومجاهدینو چې عزت النفس لري ، شهامت لري په سنګرونوکي پاته شوي په چوکې ایمان نه لري هغه وایي چې زه مرګ ته تیاریم سل کاله نور جنګیدوته تیاریم دملك پرېښودوته تیاریم خودي ته نه یم تیارچې معسود دوزیردفاع په حیث ومنم . باید دغسي یوڅوك دي وزیردفاع وي

چې په جنګونو کي بي برخه نه درلوده.

دهغه ترلاس لاندي دي اردوجوړه شي، دهغه په وسیله دي ټول مجاهدین قانع اومطمئن شي ، ثقیله وسایل دي راغونډکړي داسي تعبیرنشي چې یوتنظیم بل ته تسلیم شوي ، یوقوماندان بل قوماندان ته تسلیم شوي ، دي ته مجاهدین نه دي تیارله داسي حالت ته باید ډډه وکړو چې هغه یوبل ته دتسلیمیدو په معني تعبیرشي ، مونږباید یومطمئن کس په ټول افغانستان کي په دي تنظیمونوکي چې ټولوته دتائید وړوي هیڅوك ورته ویره اوتشویش ونلري دچاسره نه وي جنګیدلي ټول ورباندي اعتماد وکولي شي، دوزیردفاع په حیث قبول کړو، دهغه ترلاس لاندي اسلامي اردو جوړه شي ټول ثقیل وسایل راغونډکړو اوملي اردوجوړه کړو دحزب اردونه، دیوتنظیم اردونه ، مونږباید په مدار ، مدارهغه طرف ته وخوځیږوچې په آینده کي افغانستان دیوملي اسلامي اردونه برخه من شي چې دټول قوم اردووي دټول ملت اردووي اردوپه سیاست کي مداخله ونکړي ، اردودسرحداتو، ارضي تمامیت مدافع وي دبهرني تجاوزاوتیري مخې ته به ودریږي ، نن خووزارت دفاع دتنظیمونو سره جنګیږي ، دوزارت دفاع قطعات داخوږیږده چې په کابل کي امنیت تأمین کړي کاش هغه امنیت تأمینولي ، په غلا، شوکه ، چور اوچپاول لګیادي ، دخلکوکورونه ئي اشغال کړي ، دخلکوشتمني ئي تالاکړي، ملي سرمایه ئي چورکړي، زمونږ وزارت دفاع دغسي یووزارت دفاع دي .

وروڼو! زمونږانتباه داده چې مقابل طرف دي ته تیارشي چې په مسالمت آمیزطوردي دخبرواتروله لاري اوپه روغه، جوړه دافغانستان مسئله حل وفصل شي، ټولوته دمنلووړیومؤقت حکومت دي جوړشي بیادي داسلام آبادمعاهدي سره سم په شپږواوومیاشتوکي انتخابات وشي اودانتخاباتوله لاري دي یوه منتخبه شوراجوړه شي، منتخب حکومت چې هغه اساسي قانون دملك دپاره تصویب کړي بیاددي اساسي قانون حکم سره سم زمونږراتلونکي منتخب حکومتونه جوړشي، مقابل طرف دي ته تیارنه دي، داسلام آبادمعاهدي دامضا نه

بعدهم هغوي دشوراي اهل حل اوعقدخبره کوي دخپل جعلي اوقلابي یوطرفه پارلمان خبره کوي نهوتنظیمونو څخه اوه تنظیمونودشوراي اهل حل وعقدمخالفت کوي اودي ته یوجعلي ؛ قلابي دیوتنظیم شوراوایي خودوي بیاهم په خپله هغه شوراباندي اصرارکوي، په داسي حال کي چې داسلام آباد پرمعاهده کي په دي توافق شوي چې دانتخاباتو له لاري نه به منتخب پارلمان جوړیږي هغه به دملك له پاره اساسي قانون تصویبوي خودوي په راډیو کي اعلان کوي چې داسلام آباد معاهده نواقص لري داباید پارلمان ته راجع شي، پارلمان باید دامعاهده تصویب کړي هغه نه بعد به اعتباراوحیثیت لري اوددي معاهدي یونقص دادي چې شوراي اهل حل اوعقدرئیس جمهورددوو کلونوله پاره تاکلي خوداسلام آباد په معاهده کي دهغه موده اتلس میاشتي تاکل شوي داداسلام آباد دمعاهده نقص دي اوس باید داپارلمان ته راجع شي رهبران ددي حق نه لري چې دافیصله وکړي دادپارلمان حق دي. ددي معني څه ده ماته روایاست ، ددي معني داده چې دهغوي له نظره داسلام آباد معاهده نورهیڅ ارزش او اعتبارنه لري ، دوي دمعاهدي په نسبت التزام نه لري هغه معاهده نوره دوي تر پښولاندي کړي اوهغوي په قدرت کي دپاته

کیدلو له پاره لاره لټوي، موضوع دانه ده چې دهغوي سره دکابینې په ارتباط مشوره نه ده شوي، دکابینې په ارتباط که مشوره نده شوي زه یه داومنم، داکمیسیونونوته یې نمایندګان ولي نه دي معرفي کړي ، بندیان ولي نه دي خوشي شوي، دانوي قطعات دڅه له پاره جوړیږي

په پروان اوکاپیساکي جنګ دڅه له پاره دي ، ماته وواياست شرعاً چې یوڅوك تعهد وکړي چې په دووهفتو کي به په جلال آبادکي غونډیږي اوکابینه به جوړیږي اوهغه غونډي ته حاضرنشي ، دهغه وکیل او نمایندګان وایي چې آخري جلسه به په چهارآسیاب کي وي اوکوم رهبرچي دي جلسي ته حاضرنشو بیابه صدراعظم کابینه جوړوي اوهغه رهبربه په دي کابینې داعتراض حق نه لري اوترخبرولاندي امضا کوي .

هغه جلسه هم تیریږي ، خپله دهغه نمایندګان وایي چې نوردسته جمعي غونډي ته ضرورت نشته کافي مشوره شوي تاسواوخداي چې له دي

اوداکثریت خبره ده څوك چې په دي معتقدوي هغه دملت دفیصلي نه ویریږي ، مونږ خوددي منکریو، دملي تعصباتو، قومي اوژبني تعصباتو نه منکریواوهغه تحریموو مونږمسلمانان یوعقیده موداده چې

څوك دعصبیت طرف ته بلنه ورکوي هغه دپیغمبرداامت نه نه دي څوك چې دعصبیت په سروجنګیږي په عصبیت ومري هغه دپیغمبرامتي نه دي، مونږخودادجاهلیت دعوت ګڼوداشرك دي دازمونږدعقیدي اوایمان سره تصادم کوي، مونږپرلوي امت باورلرو دکلیمي پرامت اوملت باورلرو، مونږغواړوچې په افغانستان کي ټول قومونه ازبك ، ترکمن تاجك ، پښتون ، هزاره، بلوچ ، عرب ، نورستاني داټول قومونه دوروڼوپه شان، دیوکلیمي لاندي دبرابرو وروڼوپه حیث ژوندوکړي قومي تعصبات اعمال نشي، تبعیض اعمال نشي، دچاحق تر پښولاندي نشي، حکومت دټولو په خوښه جوړشي، مونږخوپه دي باورلرو، له

په تیرکال کي لس ستري جګړې شوي اواکثره یي په ائتلاف کي دشاملودلو په خلاف وي

نه بعدیوڅوك کابینه جوړوي شرعاً اصولاًپه هغه باندي داعتراض ، شکایت اوپه هغه باندي داعتراض حق هغه ته پاته دي ، ددووهفتومشوره یوي نیمي میاشتي مشورې ته اوږدیږي ، یونیمه میاشت مکمل مستقیم ،، غیرمستقیم طوردنمایندګانو په ذریعه خپلو رهبرانو سره مشوري شوي دهغه نه بعدکابینه اعلان شوي ولي هغوي دي ته تیارنه دي چې دا کابینه اعلان کړي معني ئي داده چې هغوي غواړي داموجوده وضع پاته شي، دوي غواړي قدرت دیوتنظیم په لاس کي دي ، ضعیف النفس خلك به پیسوواخلي په چوکي تطمیع کړي دوي ته تسلیم شي خو دهغوي حکومت پاتي شي، دوي نه غواړي چې یوقانوني، شرعي منتخب حکومت ، دملت راي ته دمراجعي له لاري نه جوړشي ځکه هغوي صریحاً وایي چې دلته داقلیت

همدي امله مونږدانتخاباتونه نه ویریږو ، دملت رایي ته دمراجعي نه نه ویریږو، کودتاګانواوسازشونوله لاري قدرت ته رسدل نه غواړو، کابل زمونږپه لاس پریوتي وو مونږاعلان وکړچې په پیښورکي همغه حکومت چې زمونږپه غیاب کي جوړشوي ورسره موافق هم نه وو، اعتراضات اوملاحظات موهم پري درلودل، هغه دي راشي دچاروزمام دي په لاس کي واخلي ، مونږهغه حکومت منو، قیادي شوري دي راشي کاردي پیل کړي اوس هم مونږاصرارکوو چې داموقت حکومت دي داسي جوړشي چې مهم وزارتونه ټول نوروته ورکړي شي جمعیت اوحزب دي په صدارت اوریاست جمهوري اکتفاوکړي ولي هغوي اصرارکوي چې مهم وزارتونه دي خامخا هغوي ته ورکړشي، ددوي داقناع له پاره مونږ کابینه داسي جوړه کړه چې وزارت خارجه موهغوي ته ورکړ ، نوربیا

دسخن روزپاتې برخه

عملیاتوپه شان ناکام شول، نودادي بیادجلال آباد دغونډي لپاره امادګي سبکاره کړه، ترڅوپه پروان - کاپیساکي خپله ماتي پټه کړي .

په هرصورت تجربه خوداسي ښئي چې کیداي شي دمقابل لوري له خواپه وروستي وخت کي داغونډه وځنډیږي اویاورته بي صلاحیته

نمایندګان راولیږي لکه دجلال اباد په تیره غونډه کي چې دوخت دضیاع پرته بل هیڅ پري مرتب نه وي . خوکه فرضاًهغوي دوعدي سره سم جلسې ته حاضرشي نوبیااحتمال دادي چې هماغه زړي کابینې په هیئت زیات اصراروکړي اومهم وزارتونه دځان لپاره وغواړي ، چې داهم دستونزې حل نه دي .

دمسئلې حل په هغه وخت کي ممکن کیداي شي چې جهادي مشران په ځانګړي توګه جمهوررئیس په اخلاص اوله دي نیت سره چې ستونزه بایدحل شي په غونډه کي برخه واخلي، نه ددي لپاره چې ددفاع وزارت مسعود اودداخلي وزارت احمدشاه احمدزي ته وغواړي ، ځکه پدي حل نه شي راتلاي جمهوررئیس اوجهادي مشرانوته بایدملت ګټي اوداسلام ګټي غوره وي، هغوي باید داسي لاره خپله کړي چې جګړه اووینې تویدل بندشي، نه داسي چې بیاهم نااهلو اوجګړه غوښتونکو ته کاروسپارل شي. جهادي مشران باید واقعیتونه په نظرکي ونیسي اوعمل وکړي صدراعظم ته داسي مشوره ورکړي چې اهلو ، اعتمادي اوغیرمتنازع فیه افرادوته په کابینه کي ځاي ورکړي ترڅوملت دآرامي ساه واخلي. که داسي هم نه وي نوبیا ترټولو عملي لارداده چې یوتنظیم اویومهم اوکلیدي پست فارموله عملي شي پدي سره ترډیره حده قناعت حاصلیداي شي .

اوکه خبره ددي وي چې هرڅوك هڅه وکړي په غونډه کي زیات طرفداران پیدااو داکثریت په واسطه امتیازات اوحساس پوستونه ترلاسه کړي، دادستونزي حل نشي کیداي ، مطلب به داوي چې دوي دجګړې دتیاري لپاره پوره وخت اوفرصت پیداکړي .

جهادي مشران په ځانګړي توګه جمهوررئیس باید په دي نیت اوله پوره اخلاص سره غونډي ته راشي چې حل څنګه راتلاي شي، اودافکرورسره وي چې که حتي یووزارت هم ورته څوك ورنکړي اوبایي په ته ورکولو حل ممکن وي نو وي مني مطلب داچي غونډه باید دکشمکش اوامتیازترلاسه کولو اودخپل تنظیم دبرخي د رټولو لپاره نه وي، بلکي داسلام اوملت دګټواوجګړې بندولو په مقصدوي. اوکه نه نو بیایي ترجوړیدونه نه جوړیدل ډیرګټوردي ځکه له یوي خوابه هیوادوال کاملاً مایوس شي اوله بل پلوه به دغه به قدرت مین مشران رسوااوله ملت څخه پوره تجریدشي. په هرصورت که څه هم ناامیدي دمسلمان خاصیت نه دي خودجلال آبادغونډي ته زیات امیدنشي کیداي .

يك هيئت ايراني باهيئت پارلماني آلمان درين ملاقات كرد

بن – ۷ ثور :

يك هيئت پارلماني ايران درين بااعضاي بلندپايه پارلمان آلمان ملاقات وگفتگو كرده است .

به اساس گزارش، يك مقام پارلمان آلمان گفت كه ايران اين نقطه راروشن كرده است كه به بازرسان بين المللي اجازه ديدارازمنابع تسليحات شيمياوي وهستوي ايران راخواهد داد .

دعراقي كردانومشران دامريكائي مقاماتو سره گوري

بغداد – دغوايي ۸ مه :

دعراقي كردانومشران جلال طلباني اومسعود بارزاني دحكومت دنورو مخالفومشرانوسره تيره ورځ واشنگټن ته ورسيدل دوي به په روانه هفته كي دامريكائي مقاماتوسره وگوري .

دعراق دحكومت دمخالفو مشرانوپه جمله كي دشعيه اوسني مسلمانانو مشران هم شامل دي .

دجنوبي افريقاسياسي دلو دسپين پوستو دواكمني دختمولو په باب مذاكري پيل كړي

دغوايي ۸ مه :

دجنوبي افريقا سياسي دلو دسپين پوستو دواكمني دختمولو په مقصد خپلي مذاكري بياپيل كړي دي. دامذاكري په جهانزبورگ كي رواني دي اودافريقاملي كانگريس دانكاتا دگوند اودحكومت په گډون د۲٦ سياسي دلو نماينده گان پكي برخه اخلي .

جمهوررئيس دبليو ديكلرك ويلي دي چي هغه باورلري چي دنوي حكومت دجوړولو نه مخكي به دانتخاباتو كولو په موضوع موافقه وشي .

چين وتايوان موافقه نمودند تارويِ موضوعات اقتصادي واجتماعي مذاكره نمايند

بيجنگ – ۷ ثور :

چين وتايوان بعدازمذاكرات بي سابقه درسنگاپور موافقه نمودندتا گفت وشنودهاي رسمي رابريك سلسله موضوعات وسيع اقتصادي واجتماعي برگزار نمايند .

طبق گزارش اين موافقه بعدازروزاول مذاكرات دو روزه بين دوجانب اعلان گرديد. روساي دوسازمان نيمه رسمي كه درسال ۱۹۹۱ م براي بحث برروابط دوكشورتاسيس گرديده مؤافقه نمودند كه درآينده ملاقات هاي منظم به عمل آورند. پيكنگ وتايپي روابط ديلوماتيك ندارند .

داسلامي هيوادونوخارجه وزيرانوله ملكروملتونوځخه غوښتي چي بوسنيايي مسلمانانودوسلو بنديز پاي ته ورسوي

سرايوو – دغوايي ۸ :

د(۵۱) اسلامي هيوادونو ديپلوماتانوپه ملكروملتونو باندي غږكړي دي چي دبوسنيا دجمهوريت په مسلمانانو باندي دوسلو بنديزته بايدخاتمه وركړي شي ترڅو هغوي دصربانوپه مقابله كي مقاومت وكړاي شي .

داسلامي كنفرانس د۵۱ اسلامي هيوادونو دباندينيوچارو وزيرانو چي په كراچي كي غونډه كړي دملگروملتونوغوښتل چي دبوسنيا دصربيانوپه مقابل كي دقدرت داستعمال اجازه وركړي .

وزيرخارجهٔ بوسنيا ازكشورهاي اسلامي خواستارارسال اسلحه به آنكشورشد

سرايو– ۷ ثور :

وزيرخارجهٔ بوسنيا ازكشورهاي اسلامي درخواست ارسال اسلحه به نيروهاي مسلمان بوسنيا راكرده است تااين نيروها بتوانند ازخود دفاع كنند .

طبق گزارش، وزيرخارجهٔ بوسنيا اظهارداشت كه كشورهاي اسلامي نبايد انتظارداشته باشندكه نيروهاي مسلمان دربرابر توپ وتانك باكارد آشپزخانه بجنگند . كشورهاي اسلامي به روز دوشنبه باتصويب قطع نامه يي ازسازمان ملل متحد درخواست كردند تااستفاده از نيروي نظامي عليه صرب هاي بوسنيا را تصويب كند.

الجزايري نظاميانو څلوركسه مسلمان مبارزين په شهادت رسولي دي

الجزيره – دغوايي ۸ مه :

دالجزاير نظاميانو په مركزالجزيره كي څلوركسه مسلمان مبارزين په شهادت رسولي دي .

دالجزائررادبو خبرووركړي چي دغه پيښه ديكشنبي په ورځ هغه وخت وشوه چي پوليسو دالحرج په سيمه كي ددغومسلمانو مبارزينو كورونه محاصره كول .

معاون وزارت خارجهٔ ايران وارد فرانسه گرديد

پاريس – ۷ ثور :

معاون وزارت خارجهٔ ايران محمود " بارزي "براي گفتگو بادولت جديدفرانسه وارد پاريس شده است .

طبق گزارش منابع خبري جهان مذاكرات " بارزي " بامقامات بلند پايهٔ فرانسوي درمورد همكاري هاي اقتصادي خواهدبود . دولت فرانسه درماه نومبرگذشته تضمين صادراتي شركت هاي فرانسوي راكه باايران معامله مي كردند درحال تعليق درآورد .

شهادت

دننگرهارولايت والي حاجي عبدالقدير، دقول اردوقوماندان ډگرجنرال فضل حق مجاهد، دولايت مرستيال حاجي شمالي خان اودجهادي شوري غړي دعسكري مراسمودمعاينې په حال كي

حزب مردم پاكستان خواهان انحلال حكومت هاي ايالتي گرديد

اسلام آباد– ۷ ثور :

بي نظيربوتورهبرحزب مردم پاكستان به خاطرآمادگي . به انتخابات كه عنقريب برگزارمي گردد به تشكيل كنفرانس بزرگي اقدام نموده است .

به اساس گزارش رهبرحزب مردم پاكستان خواهان انحلال هرچه زودترهرچهارحكومت ايالتي آنكشور گرديده، مي گويد اگرحكومت مركزي درجهت منحل شدن حكومت هاي ايالتي اقدام نكند حزب وي ازحكومت خارج خواهدشد .

##

دغزي په اشغال شوي ترانگه كي (۱۸) مسلمان مبارزين په شهادت ورسيدل

تل ابيب – دغوايي ۸ مه :

فلسطيني منابعوويلي چي دغزي په اشغال شوي ترانگه كي داسرائيلو اشغالگرپوځ سره په نښتوكي لږترلږه ۱۸ كسه مبارزين په شهادت رسيدلي دي .

په خبركي زياته شوي چي خان يونس اوځيني نوروكمپونو په شاوخواكي اسرائيلي پوځيانوپه خلكواومظاهرچيانو باندي ددزوپه ترڅ كي دغه خلك شهيدان شوي .

خوداسرائيلو پوځي منابعوويلي چي دوي فقط ددريو فلسطيني مبارزينودتپي كيدونه خبردي .

له بلي خوابوه فلسطيني مبارزه ښځه چي داسرائيلو سره په جګړوكي تپي شوي وه دشهادت لورمقام ته رسيدلي ده .

امريكابه دمنځني ختيځ دسولي په خبروكي دبي طرف مينځ گړي په توگه وي

واشنگټن – دغوايي ۵ :

امريكائي واكمنوغربوته اطمينان وركړي دي چي هركله ني په واشنگټن كي دراتلونكي سه شنبي په ورځ دمنځني ختيځ دسولي خبري له سره پيل كړي نوامريكابه بوبي طرف مينځ گړي وي. دامريكادبهرنيوچارو وزيركرستوفردامريكائي عربانويوي ټولني ته وويل ده فيصله كړېده چي په بي طرفانه ډول به دسولي دجريان پرمخ بيوولوكي مرسته كوي، كرستوفروويل دي په دي پوهيږي چي دفلسطين مشران دهغو قواوو له خواچي دسولي دخبرو سره مخالف دي ترسخت فشارلاندي دي مگردوي وابي ددوي جرئت داسرائيلو له خواددوي دځمكواشغال ته خاتمه وركولي شي .

مذاكرات ...

واشنگټن – ۷ ثور :

گفتگوهاي صلح اعراب واسرائيل بعدازچهارماه وقفه به روزسه شنبه درواشنگټن ازسرگرفته شد .

طبق گزارش پيش، ازظهرروزسه شنبه نمايندگان اسرائيل بانمايندگان سوريه ، لبنان واردن جلسات جداگانه داشتند وهكذا درعصرهمان روز بانمايندگان فلسطيني نيزمي خواستند ملاقات نمايند .

همزمان باآن فلسطينيان سرزمين هاي اشغالي براي اعتراض به ازسرگرفته شدن گفتگوهاي صلح اعتصاب عمومي كردند .

رفسنجاني دايران دجمهوري رياست لپاره يوځل بيا كانديد دى

تهران – دغوايي ۸ مه :

ايران ويلي چي دجون دمياشتي د۱۱ مي نيټي دجمهوري رياست دمقام دانتخاباتو لپاره به دهغوخلكردنومونو په ثبتولو باندي دشنبي په ورځ شروع وكړي چي نوموړي مقام ته ځانونه كانديدول غواړي دتهران راديو دهغه هيواد دداخله چارو دوزيرعبدالله نوري له قوله ويلي چي داشخاصودنومونودثبتولو لپاره (۵) ورځي وخت وركړشوي دي ،

دايران جمهوررئيس علي اكبرهاشمي رفسنجاني دتيري فبروري په مياشت كي ويلي وو چي دي به ځان كانديدكړي تراوسه دهغه مقابلي ته كوم څوك ندي راوتلي :

۲۰ نفر مامورين محكمه عالي كاستاريكا به اسارت اشخاص مسلح درآمد

كاستاريكا – ۷ ثور :

اشخاص مسلح كه بيش از۲۰ نفررادرعمارت محكمهٔ عالي كاستاريكا درامريكاي لاتين به گروگان گرفته اند، ۲۰ مليون دالر رهائي يك عده محبوسين واجازهٔ خروج مصئون ازكشوررا تقاضاكرده اند. راديوامريكابه نقل ازيك مامورحكومت كاستاريكاگزارش ميدهدكه اشخاص مسلح اين تقاضاهارا دراواخرروزدوشنبه توسط مكتوبي عنواني حكومت به عمل آوردند .

اعلان

ادارهٔ پلانگذاري براي پاكسازي ماين ها(MCPA) جهت سروي عمومي افغانستان به ۷۵ نفرسرويرازولايات مختلف كشورضرورت دارد .

علاقه مندان ميتوانند جهت اخذ فورمه ازتاريخ اول تاچهارم ماه مي سال ۱۹۹۳ به دفتراين اداره واقع حيات آباد پشاورمراجعه نمايند.

انترويوبه تاريخ پنجم وششم ماه مي سال۱۹۹۳ صورت ميگردونتايج بتاريخ هشتم مي اعلان خواهدشد .

شرايط افراد:

۱– حداقل فارغ التحصيل صنف ۱۲ باشد .

۲– سابقهٔ كاردرتنظيم هاي جهادي يامؤسسات خيريه داشته باشد .

۳– درهمه نقاط ولايت مربوطه خودبلديت وآشنايي كافي داشته باشد .

آدرس : خانه ۵۸ ايچ۲، فيز۲ ، حيات آباد پشاور

دوركي اعلان

دننگرها پوهنتون دانجينيري پوهنځي دمحصل امين خان ددراوتيگ سامان، له څه استادواوكتابونوسره وك شوي كه چاته معلوم وي پدي پته دي خبروركړي .

په ننگرهاركي اسلامي پوهنتون دانجنيري محصل امين خان

په پيښوركي : ددعوت اوجهاد پوهنتون دطب پوهنځي محصل نورالله

اعلان

دارالامانت شيشوپلورنځي هرډول تعميراتي شيشي دضرورت منداونولپاره په مناسبه بيه وړاندي كوي .

پته : سيدجمال الدين افغاني چوك

په هندكي دالوتكي دسوځيدوله امله (۵۵)كسان ووژل شول

نوي ډيلي – دغوايي ۸ :

هندي ماموريتوويلي دي چي داورنگ آباد په هوايي ميدان كي هغه مسافروړونكي الوتكه چي داوريه لمبوكي تباه شوه لږترلږه (۵۵) تنه وژل شوي دي .

په دغه الوتكه كي چي ۱۱۸ مسافرسپاره وو اورني واخست او وسوځيده .

په خبركي راغلي چي (۵۵) كسه پكي ووژل شول كوم كسان چي په الوتكه كي ژوندي پاتي شوي داكسان دالوتكي په مخكيني برخه كي سپاره وو

نظاميان ...

عليه قتل يكي ازهمكاران شان توسط عساكرفدرال دست به اعتصاب زدند .

فرمان الهي

"سوگند به عصروزمانه هرآيينه انسان درزيانكاري است ، مگركسانيكه ايمان آوردند و اعمال صالح نمودند وهمديگر رابه حق وصبر توصيه كردند ."

(العصر ۱–۳)

ارشاد نبوي

حضرت انس (رض) روايت مي كند كه پيامبر(ص) فرمودند: "كسيكه برمن يك صلوات بفرستد خداوند براوده صلوات ميفرستد وده سيئه راازاومحومي نمايد"

بقيهٔ سرمقاله

رئيس جمهورسپرده شده مگر اوبه اين خاطركه پست هاي وزارت دفاع وداخله به آنهاداده نشده ، ازاعلان آن سر زده وخلاف تعهدوقانون به كابينهٔ سابق اجازهٔ كارداده است–به اثر وساطت بعضي هاقرارشدكه رهبران روز پنجشنبه گذشته براي حل معضله باهم بمذاكره بنشينند ، مگرجانب مقابل اين پروگرام را سبوتاژوآنرابه روزشنبه موكول كرد، بعدترگفتند كه بهتراست مذاكرات روزپنجشنبه ۹ ثور درشهرجلال آباد دايرگردد.

حزب اسلامي كه ازوعده خلافي هاودروغ هاوحيله گري هاي طرف مقابل طي پانزده سال جهاد به ديوان هاخاطره دارد ولي باآنهم باسعهٔ صدروشكيبايي درهرباري باخون سردي پيشنهادات طرف مقابل رارد‌ننموده است ودرهرمذاكره وتفاهمي كه ديگران پيشنهاد نمودم آمادگي خودرا نشان داده است. هرچند كه ميداندديگرتوقع خيربردن ازچنين مذاكرات بيهوده است وجزضياع وقت حاصلي ديگري ندارد. درهمين فرصتيكه آقايون ازتفاهم ومذاكره حرف ميزنند، قطعات شوراي نظاربه تباني افراد جنرال بابه جان بالاي مواضع مجاهدين حزب اسلامي درولايات پروان وكاپيسا حمله مي نمايند. درهمين زمانيكه خيرازسرگيري مذاكرات را زمزمه مي كنند، مسير عبور ومرور كاروان صدراعظم را ازبيني حصار الي بگرامي باسرگلوله هاي آتشزاي توپ باسيستم ريموت كنترول مين كاري مي كنند. هكذا به بهانهٔ مذاكرات صلح قوت هاي خودرابراي يك جنگ تمام عيارديگرتعبيه مي نمايند وباواردكردن كانتينرهاي بانكنوت هاي بي پشتوانهٔ افغاني ازماسكو قوماندانان سايرتنظيم هارا تطميع مي نمايند. همچنان همين حالاهيئت بلندپايه حزب وطن ازماسكو بكابل آمده و روي احياي پروژهٔ ائتلاف باحكام كابل مصروف مذاكره ميباشند .

ازقراين موجود وتجارب گذشته چنان پيداست كه طرف مقابل براي حل مسالمت آميز قضيه راضي نيست ودرحكومت سهمگيري فعال حزب اسلامي راتحمل نموده نمي تواند. شواهد عيني ازشهركابل حاكي است كه اخيراً امنيت شهركابل به قطعات باقيماندهٔ رژيم كمونست سابق سپرده شده وتعداد مجاهدين ازپوسته هاي امنيتي شهر كاملاً كاهش يافته است، باآنچه درفوق تذكاريافت، نيات طرف مقابل چيزي ديگريست وزمزمه نمودن مذاكره فقط بخاطر اغواي بعضي گروههاي ساده لوح وعامه مردم است .

بهرصورت حزب اسلامي علي الرغم عهدشكني هاوفتنه گريهاي مكررطرف مقابل بازهم شعارش اينست كه قضيه ازراه صلح ومذاكره حل شود وهيچگاهي خواهان جنگ نيست ، ولي اگرجنگ ازطرف ديگران برحزب اسلامي تحميل شود، درآنصورت مجاهدين از دفاع خود غافل نخواهندبود وچون گذشته بامشت هاي گره كرده بردهان متجاوزين خواهندكوبيد .

منطقهٔ ديگري ازمسلمانان بوسنيا هدف حملات قواي صربي هاقرارگرفت

سرايوو – ۷ ثور :

قواي مهاجم صربي هابه سوي يك منطقهٔ تحت تسلط مسلمانان در شمال غرب بوسنيا هرزه گووينا پيش رفته وجبههٔ جديدجنگ رادرآن ساحه بازكرده اند .

طبق گزارش رهبران صربي اليتماتوم را به عساكر ملل متحد درشرق بوسنيا صادركرده وگفته انددرظرف ده روز قواي مسلمانان درشهرسربرينيساراكاملاً خلع سلاح نمايند. خبرگزاري هاي جهان ازجنگ هاي شديددرمنطقه ،گزارش رامنتشرنموده است .

هم چنان يلتسن رئيس جمهور روسيه هوشدارداده است درصورتيكه صربي هافيصله هاي سازمان ملل متحدراني‌پذيرد به عكس العمل شديدمواجه خواهندشد .

###

گردبادشديددرامريكاده كشته وپنجاه مجروح بجاگذاشت

واشنگټن – ۵ ثور :

توفان گردباددرايالت وسطي اوكلاهوماي امريكا باعث هلاكت ده نفروجراحت پنجاه نفرديگرگرديده است .

اين توفان بابادهاي به سرعت ۱۳۰ كيلومتردرساعت دربخش شرقي، اين ايالت متمركز بود، گردباددهٔ هاخانه راخساره مندساخته وموترهاولاري هاراچپه نموده است .

##

تبديلي نام

برادرمحمدآشور"معراج" فرزند معراج الدين "معراج" مسكونه قريه تكري ولايت لغمان ، فعلاً باشندهٔ دانش آبادپشاور اسم خودرابه منهاج الدين (معراج) تبديل نموده است وي اميدواراست به اسم جديدش شناخته شود .

يلتسن داعتباررايه ترلاسه كړه

مسكو– دغوايي ۸ :

په روسيه كي دلومړي

شهادت

بيانگرعقايدوآرمان هاي حزب اسلامي افغانستان

صاحب امتياز: حزب اسلامي افغانستان

مؤسس : انجنيرحكمتيار

ناشر : رياست ارشادوفرهنگ

تحت نظرهيئت تحرير

پست بكس : ۱۰۳٦ يونيورستي تاون پشاور

آدرس : جلال آباد چكنوري

حساب بانكي: ۸۵۲٦٤ دافغانستان بانك

تلفون : ۲۳۷۰ شهرجلال آباد